# ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زیری

# پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۵۲ مه ګڼه ◆ شنبې، د ۱۴۰۰، د زمري ۱٦مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ




په هېواد کې د جګړې له پراختیا او په دوحه کې د سولې خبرو له درېدو سره په یو وخت؛ ولسمشر محمداشرف غني د زمري په ۱۱مه د ملي شورا ځانګړې غونډه راوبلله.
افغان ولسمشر په دې ناسته کې د خلکو ترمنځ پر یووالي ټینګار وکړ او د ملي شورا له غړو یې وغوښتل، د افغانستان د روښانه راتلونکي لپاره لاسونه سره ورکړي.
محمد اشرف غني وویل چې د وضیعت د ښه کېدو لپاره یې راتلونکو شپږو میاشتو ته ځانګړی پروګرام جوړ کړی دی.



۸ صبح
د پرون روایت | دنن هېنداره | د سبا زېرى




# سرکرښې

**آخر د افغانانو وژنه او بې کوري ترکله؟**

په تېرو څو مياشتو کې د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د جګړې، ملکي وګړو د وژنو، ورانيو او بې کورى رپوټونه خپرېږي، که څه هم دا د رسنيو لپاره تاوده مسايل او خبرونه دي، خو آيا ددغو خبرونو دې اړخ ته چا پام کړى چې هره ورځ د هېواد په هر کلي، دره او سيمه کې په سلګونه کورنۍ د وير په ټغر کېنول کېږي؛ ميندې کونډې، بورې او ماشومان بې پلاره کېږي. هېڅوک ددغه مظلوم اولس د دردونو او کړاوونو د پای ته رسولو لپاره صادقانه او رښتيني هڅې نه کوي. افغان اولس نور خپلې ټولې هيلې له لاسه ورکړې، ځکه نړيواله ټولنه، د بشري حقونو دفاع کوونکې سازمانونه او ټولنې، د اسلامي هېوادونو مشران او سياستوال ټول يوازې د مظلومو افغانانو د وژنو او ناخوالو ننداره کوي.

ددغې بدمرغه جګړې د سون مواد افغانان دي چې د جګړې په دواړو اړخونو کې وژل کېږي، بې کوره کېږي او خپل هر څه له لاسه ورکوي. په داسې حال کې چې بهرني ځواکونه له افغانستانه د وتلو په حال کې دي، تمه کېده چې جګړه پای ته ورسېږي او د سولې بهير ګړندى شي، خو له بده مرغه طالبانو خپلو بريدونو ته لازور ورکړى او د سولې د خبرو پر ځای يې تر ډېره جګړې ته لومړيتوب ورکړى دى.

بل لورې ته، افغان دولت هم د سيمو د بېرته نيولو لپاره پوځي عملياتو ته زور ورکړى او د هرې ورځې په تېرېدو د دواړو لوريو ترمنځ د جګړې لمن پراخېږي چې آن ښارونو ته هم جګړه رسېدلې او طالبانو پر يو شمېر ښارونو بريدونه پيل کړي دي.

که څه هم افغان ولسمشر ويلي تر راتلونکو شپږو مياشتو به په بنسټيزه ډول امنيتي وضعيت بدل شي خو افغان امنيتي بنسټونه وايي چې د افغانستان په يو شمېر لويو ولايتونو لکه کندهار، هلمند او هرات کې امنيتي ننګوني زياتې دي.

د وژنو او ځاني زيانونو ترڅنګ، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د شمېرو له مخې، په هېواد کې د وروستيو جګړو له امله څه د پاسه شپېته زره کورنۍ له خپلو سيمو بې ځايه شوي چې دا شمېر په تېرو شلو کلونو کې بې مخينې بلل شوى دى. د راپورونو پر بنسټ ډېرى دغه بې ځايه شوي په سخت وضعيت کې ژوند کې او آن د ژوندانه له لومړنيو امکانات بې برخې دي.

افغان اولس د جګړې له ښکېلو لوريو د اوربند او روان ناورين د پای ته رسولو غوښتنه کوي، دوى په يوه آواز د روان ناورين د پای ته رسېدو غوښتونکي دي ځکه ترکومه به دا مظلوم اولس د جګړو په اور کې سوځي. د نړۍ په هېڅ هېواد کې د جګړې له لارې واکمني د پايښت وړ نه ده، يوازې خبرې او روغه جوړه د ستونزو او اختلافاتو د حل لاره کېداى شي او بس.

# ليکلړ

● آيا دولت او طالبان به د جګړې پر ځای پر اساسي مسايلو... ۱
● جګړه او سوله؛ ولسمشر د دولت سياست اعلان او ملي شورا... ۲
● د ملي شورا اعلاميه: طالبان بايد تاوتريخوالى ودروي ۵
● د جګړې کوم اړخ له بشري حقونو د سرغړونې لامل شوى؟ ۶
● امريکا غواړي د افغانستان صادرات دېرش سلنه زيات شي ۷
● سوله د افغان اولس يوازينۍ هيله ۸
● ملګري ملتونه: ښارونو ته د جګړې پراختيا د زرګونه تنو د بې کوره کېدو... ۹
● لنډۍ ۱۰
● مريدنامه ۳۵ ۱۱
● د هېرېدو دوزخ ۱۲
● د ټيليفون له کرېډيټه ماليه ګرځول او د مخابراتي خدماتو ټيټ کيفيت ۱۴
● د تيليفون له لارې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د ورکړې پروګرام... ۱۵
● په دهراوود ولسوالۍ کې يوې سيمه ييزې راډيو ته زيان رسېدلى دى ۱۶
● کندهارې ځوانانو د جګړې د پای ته رسېدو لپاره د يوناما دفتر... ۱۷
● د «الله اکبر» نعره که د توپ ږغ؛ د افغانستان له لوېديځه تر ختيځه... ۱۸
● په ارزګان کې يو تاريخ ليکوونکى او شاعر ووژل شو ۱۹
● د ۱۹ کلنو ملي لوبغاړو روزنيز کمپ پيل شو ۲۰

**د امتياز خاوند:** سنجر سهيل
**مدير مسوول:** مجيب مهرداد
**د کتنپلاوي تر نظر لاندې:**
**د کتنپلاوي مشر:** م. ظ. صميم
**مرستيال:** وحيدالله هوتک
**خبرېالان:** احمد شاه شاداب
زمان سهيل او محتاج اصيل
**ديزاين:** غ. رضا مجيدي
**پته:** تايمني، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# آیا دولت او طالبان

## په د جګړې پر ځای پر اساسي مسایلو خبرې وکړي؟

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د هېواد په بېلابېلو برخو کې د جګړې د لمنې له پراختیا سره په یو وخت، ځینې سرچینې په دوحه کې د سولې په خبرو کې د پرمختګ خبر ورکوي. سرچینې وايي چې طالبانو منلې پر اساسي مسایلو بحثونه پیل کړي. ټاکل شوې دواړه لوري د سیاسي مشارکت، اساسي قانون او اوربند په هکله سره خبرې وکړي. له بلې خوا د دولت د مرکچي پلاوي سرچینه دا هم وايي چې د طالبانو ډلې مرکچي پلاوی د سولې مذاکراتو ته د مسایلو د حل ددوهمې لارې په توګه ګوري له همدې امله په جدي توګه دا بهیر پرمخ نه بیايي. اخوا، طالبان هم تاییدوي چې د سولې مذاکرات اساسي بحثونو ته داخل شوي، خو دا ډله دولت د جګړې په خپرولو تورنوي او وايي چې دولت سولې ته جدي اراده نه لري. دا په داسې حال کې دي چې ولسمشر غني د ملي شورا په فوق العاده ناسته کې له طالبانو او د هغوی له ملاتړو وغوښتل چې له سولې یا جګړې یو غوره کړي. که څه هم دولت په ځلونو له طالبانو غوښتي چې پر اساسي مسایلو بحث پیل کړي، خو دغې ډلې تراوسه دا غوښتنه نه ده منلې. افغان دولت څه موده مخکې د ملي روغې جوړې د عالي شورا د رییس عبدالله عبدالله په مشرۍ یو پلاوی دوحې ته ولېږه چې پر اساسي مسایلو لکه سیاسي مشارکت، د منځګړي د ټاکلو او اوربند په اړه خبرې اترې وکړي، که څه هم دا خبرې د ترلو دروازو ترشا وشوې خو کومه مثبته پایله یې نه لرله او داسې ښکاري چې طالبانو د افغان دولت غوښتنو ته پام نه دی کړی. دواړو لوریو یوازې هوکړه کړې وه چې په جګړه کې ښخ بنسټونو ته زیان نه رسوي او روغتیایي کارکوونکو ته جازه ورکړي، ناروغانو ته خدمات وراندې کړي. خو اوس په دوحه کې سرچینې وايي چې تازه طالبانو منلې پر اساسي مسایلو خبرې پیلوي.

**د دولت د مرکچي پلاوي یوې سرچینې ۸صبح ته ویلي چې په اوسني وخت کې بحثونه روان دي او دواړو لوریو هوکړه کړې چې د اساسي مسایلو لکه سیاسي مشارکت، اساسي قانون او اوربند په هکله بحث وکړي. هغه زیاته کړې، دا هوکړه هم شوې چې د سولې مذاکرات ګړندي شي او پراساسي مسایلو بحثونه پیل شي.**

خو د دولت د مرکچي پلاوي غړی پر طالبانو نیوکه کوي او وايي چې دغې ډلې د خبرو پر ځای تر ډېره جګړې ته پام کړی دی. هغه زیاتوي چې طالبانو تراوسه لږ انعطاف ښودلی او موخه یې دا وه چې هر څه د دوی په غوښتنه پرمخ ولاړ شي. خو د دولت مرکچي پلاوي تراوسه د خلکو له ارزښتونو دفاع کړې ده.

دغه سرچینه وايي چې د طالبانو د پلاوي غړي تر ډېره په



شخصي کارونو بوخت دي او د سولې مذاکراتو ته د دوهم کار په سترګه ګوري او په منظم ډول د سولې په اړه له دولتي پلاوي سره خبرې اترې نه کوي. د هغه په وینا، په همدې لامل د سولې مذاکرات دومره اوږده شوي او کومه مثبته پایله یې هم تراوسه نه ده لرلې.

له دې سره په یو وخت **د هېواد د بهرنیو چارو وزیر ویلي چې ټاکل شوې په راتلونکو ورځو کې په دوحه کې د افغان سولې په اړه دوې مهمې ناستې وشي. د هغه په خبره، په دغو ناستو کې به د سیمې او نړۍ د هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازي ګډون وکړي.** محمد حنیف اتمر د زمري په ۱۲مه نېټه د یو شمېر هېوادونو له استازو سره په کتنه کې ویلي چې طالبانو خپل بریدونه زیات کړي او په زرګونه ملکي خلک وژل شوي دي. د هغه په وینا نړیوال باید د جګړې د درېدو او له طالبانو سره د سیاسي هوکړې په اړه خپل لیدلوري بیان کړي. له بلې خوا طالبان دولت د جګړې په پراختیا تورنوي او وايي چې دولت د سولې لپاره اراده نه لري. په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم ۸صبح ته ویلي چې د دواړو لوریو مرکچي پلاوي په مسلسل ډول خبرې اترې کوي او په وروستیو ورځو کې پر اساسي مسایلو بحثونه پیل شوي دي. هغه د اوربند په هکله ویلي چې د دوحې د هوکړې له مخې د نوي نظام پر سر له موافقې وروسته به دې اړه خبرې کېږي. د طالبانو ویاند د ولسمشر غني پر وروستي دریځ نیوکه وکړه او وي ویل مقابل لوري (دولت) د جګړې اعلان کړی او په وروستیو ورځو کې یې د هېواد په بېلابېلو برخو کې هوايي بریدونه زیات کړي دي.

دا په داسې حال کې دي چې ولسمشر د ملي شورا په فوق العاده ناسته کې طالبانو ته خبرداری ورکړ، که سوله ونه کړي د امنیتي ځواکونو له کلک مقاومت سره مخامخ کېږي. هغه وايي چې عملیاتي پلان یې برابر کړی او د عملي کېدو په حال کې دی.

طالبان په داسې حال کې دولت، د جګړې په دوام تورنوي چې د حکومت په وینا دغې ډلې له هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر له پیله بریدونه زیات کړي دي. یوناما او د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم ویلي چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو له پیل راهیسې د طالبانو بریدونه زیات شوي دي او یوازې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یو زر او ۶۰۰ ملکي وګړي وژل شوي دي.

# جګړه او سوله؛

## ولسمشر د دولت سیاست اعلان او ملي شورا یې ملاتړ وکړ

◆ راپور: عبدالاحمد حسیني
◆ ژباړه: وحید الله هوتک

په ښارونو کې د جګړې له پراخېدو او په دوحه کې د سولې خبرو له درېدو سره هممهاله، ولسمشر محمداشرف غني د زمري په ۱۱مه د ملي شورا ځانګړې غونډه راوبلله. په دې غونډه کې د ولسمشر خبرې پر څلور محورونو راټولې وې. غني د قرآن کریم د آیتونو په استناد، طالبان تېري کوونکي وبلل او له خلکو یې وغوښتل د دې ډلې په وړاندې یوموټي شي. نوموړي وویل چې د امریکا او طالبانو ترمنځ په هوکړه کې تلوار شوی او زیات یې کړه، دا بهیر نه یوازې چې سولې ته یې لاره هواره نه کړه؛ بلکې «تېري کوونکې» ډلې ته یې مشروعیت ورکړ او د جمهوریت د واحد صف د مشروعیت کمزوري کېدو هڅه وشوه. ولسمشر غني په دې ناسته کې د خلکو ترمنځ پر یووالي ټینګار وکړ او د ملي شورا له غړو یې وغوښتل، د افغانستان د روښانه راتلونکي لپاره لاسونه سره ورکړي. نوموړي اوسنی وضیعت د بېلابېلو ادارو د ناسم مدیریت پایله وبلله او ویې ویل، د وضیعت د ښه کېدو لپاره یې راتلونکو شپږو میاشتو ته ځانګړی پروګرام جوړ کړی دی. د نوموړي په خبره، یا به له طالبانو سره زنګون پر زنګون د سولې مذاکراتو ته کښني یا به د جګړې په ډګر کې د طالبانو زنګنونه ماتوي. د ولسمشر دغې وینا ته بېلابېل غبرګونونه ښودل شوي. د ملي شورا غړو د ولسمشر له دې وینا، جمهوریت او د امنیتي او دفاعي ځواکونو ملاتړ کړی او عام ولس هم د ولسمشر دغه دریځ ستایلی او ویلي یې دي، که څه هم دا دریځ ناوخته غوره شوی، خو وضیعت د دولت په ګټه بدلولای. طالبانو د ولسمشر دا خبرې «پوچې سپورې» یادې کړې او ویلي یې دي، غني له دې سره هڅه کوله خپل بد وضیعت او «وارخطایي» کنټرول کړي.

طالبانو له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره هممهاله د سولې مذاکرات له پامه غورځولي او پر ځای یې بریدونه زیات کړي. که څه هم حکومت او نړیوالې ټولنې له طالبانو غوښتي، چې مانا لرونکې سولې ته غاړه کېږدي، خو هغوی دا غوښتنه له پامه غورځولې. اوسمهال طالبان پر ډېرو ولایتونو بریدونه کوي او د ځینو ولایتونو مرکزونه یې کلا بند کړي دي. دا وضیعت د دې لامل شو، چې ولسمشر د ملي شورا ځانګړې ناسته راوبولي. نوموړي په دې ناسته کې وویل: که څه هم افغان حکومت عادلانه او تلپاتې سولې ته ګام اخیستی، خو طالبانو نه یوازې کوم ګام نه دی پورته کړی، پر افغان دولت او افغانانو یې جګړه تپلې ده. غني د قرآن کریم د آیتونو په استناد، طالبان تېري کوونکي وبلل او له ملي شورا او خلکو یې وغوښتل، د دې ډلې په وړاندې ودرېږي. د نوموړي په خبره، د قرآن کریم د صریح آیتونو له مخې، کومه ډله چې له تېري لاس وانخلي، د ټولو دیني مسوولیت دی، چې په وړاندې یې وجنګېږي. هغه زیاته کړې، د تیري موخه د فتنې رامنځته کول او توکي یې «مکر او دوکه» ده. غني زیاته کړه، دا جګړه او فتنه پر افغان حکومت او افغانانو تپل شوې او اوس د ټولو دیني او ایماني وجیبه ده، چې په وړاندې یې وجنګېږي.

ولسمشر غني ټینګار وکړ، چې خلکو د سولې د راتلو، آرامۍ او اقتصادي ودې او پرمختګ په موخه نوموړی ټاکلی او اوس



هڅه کوي، د جګړې او ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي. د نوموړي په خبره، له دې مخکې هم د تلپاتې او عادلانه سولې هیله من و او اوس هم غواړي تلپاتې سولې ته ورسېږي. غني وویل، طالبان د سولې اراده نه لري او پر خلکو یې جګړه تپلې ده. د ولسمشر په خبره، تر ټولو سخت کار چې ځوروي یې، هغه د افغان ملکي او دفاعي ځواکونو د تلفاتو راپور لوستل دي.

بلخوا ولسمشر غني د ۱۳۹۷ کال د اختر درې ورځنی اوربند ته اشاره وکړه او زیاته یې کړه، دا اوربند یو ملي نوښت او د ملت د پراخ زغم ښکارندوی و. د نوموړي په وینا، طالبانو په سترګو ولیدل، چې د دې ملت سینه څومره پراخه ده. ښاغلي غني وایي، هغه وخت ټولو خلکو له طالبانو سره خبرې وکړې او هېچا ورته د دښمن په سترګه ونه کتل. هغه ټینګار وکړ، دا درې ورځنی اوربند طالبانو ته لوی درس و. نوموړي زیاته کړه، د سولې ملي او عملي درسونه یې په دوو پاټو کې چاپ کړي او خلکو او نړیوالو ته یې وړاندې کړي دي. ولسمشر غني زیاته کړه: «تلپاتې سولې ته رسېدل، د دې هېواد تاریخي طبیعت دی او که له ژور لیده وکتل شي، دا د دې خاورې ایدیولوژیکي، فرهنګي او تاریخي بستر بلل کېږي.»

## د دوحې د سولې تړون، طالبانو ته مشروعیت ورکړ

ولسمشر غني په خپلو خبرو کې د دوحې تړون ته اشاره وکړه او زیاته یې کړه، سولې ته د رسېدو لپاره ملي اجماع غوره لار وه، خو ستونزه هغه وخت پیدا شوه، چې د سولې افغاني او نړیوال درسونه مراعات نه شول. د ښاغلي غني په وینا، په دې برخه کې وارداتي بهیر د ملي بهیر مخه ونیوله. د نوموړي په خبره، دغه بهیر پر خامو فرضیو ولاړ و او بنسټ یې پر جمهوریت فشار او د ولسواکۍ کمزورتیا وه. ولسمشر وایي چې دغه بهیر نه یوازې سولې ته لار هواره نه کړه؛ بلکې یوې تیرې کوونکې ډلې ته یې مشروعیت ورکړ او د مشروعیت د کمزورۍ کېدو هڅه پکې وشوه. همداراز نوموړي ټینګار وکړ، دغه وضعیت زیات شکونه رامنځته کړي او اوسنی وضعیت یې پایله ده.

ولسمشر غني ټینګار وکړ، طالبان بدل شوي نه دي. نوموړي هغو ته د ځواب په موخه چې وایي طالبان بدل شوي او سپیناوي یې کوي، زیاته کړه: «طالبان بدل شوي؛ ظلم او تاوتریخوالی یې زیات شوی او د تېر په پرتله د پردیو ګټو ته زیات ژمن شوي دي.» د نوموړي په خبره، طالبانو لکه څنګه یې چې د خپلې واکمنۍ پرمهال د تاریخ، جغرافیې او حب الوطن کتابونه له درسي نصابه لیرې کړي ول، اوس یې پر دې باور لا ژور شوی دی. هغه زیاته کړه، اوسمهال طالبانو د دې خاورې پر تاریخ او جغرافیې تېرى کړی، خلک او دولت دې پایلې ته رسېدلي، چې د طالبانو په ضمیر کې د تلپاتې او عادلانه سولې ځای نشته. ولسمشر روښانه کړه، تر هغه چې د جګړې ډګر بدل نه شي، دغه محاسبه به یې بدله نه شي. که څه هم نوموړي له طالبانو وغوښتل، چې له دښمنۍ لاس واخلي او له افغانانو سره د ورورۍ لاس ورکړي.

## د خلکو پر یووالي ټینګار

ولسمشر غني یادونه وکړه، اوس د یووالي او ورورولۍ وخت دی. د نوموړي په وینا اوس دا وخت نه دی، چې سلامت او ملامت بېل کړو، د خلکو وجدان به پر دې قضاوت وکړي. غني یادونه وکړه، اوس یې زیات ټینګار د خلکو پر یووالي دی. د نوموړي په خبره، یووالی او اتحاد د هېواد بقا او بریالیتوب دی او اوس د ملي بحث وخت رارسېدلی، چې باید پیل شي. د ولسمشر غني په باور، اوسمهال هېواد له لویې ملي آزموینې سره مخ دی.

## د ولس استازي دې د طالبانو په وړاندې ولسي پاڅونوال منظم کړي

ولسمشر غني د خپلو خبرو په بله برخه کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتلو ته هم اشاره وکړه او زیاته یې کړه، پنځه کاله مخکې یې وړاندوینه کړې وه، چې نړیوال شریکان له افغانستانه وځي. د هغه په خبره، اوسمهال په زروهاوو بهرني پوځیان له افغانستانه وتلي او امنیتي ځواکونو دا تشه ډکه کړې ده. نوموړي ټینګار وکړ، دوه کاله مخکې یې د امریکا ولسمشر ته لیک لېږلی او ترې غوښتي یې دي، چې د پاتې سرتېرو په هکله دې پرېکړه وکړي. د ښاغلي غني په خبره که څه هم ځینو دا انګېرله، چې امریکا به له افغانستانه ونه وځي، خو هغوی د خپلو سرتېرو د وتلو پرېکړه په ناڅاپي ډول وکړه. نوموړي جوته کړه، له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو له کبله د رامنځته شویو خطرونو له منځه وړل د ټولو مسوولیت دی.

ولسمشر زیاته کړه، په تېرو دریو میاشتو کې هېواد له ناسم حالت سره مخ و. د نوموړي په باور، اوسمهال هېواد له بهرني او کورني تبلیغاتي یرغل سره مخ دی او ځیني انګېري، د اوسني وضعیت تر شا ګواکې پټه معامله شوې ده. ښاغلي غني ډاډ ورکړ، کومه پټه معامله نه ده شوې او اوسنی وضعیت د نه چمتووالي او په ځینو برخو کې د کمزورتیا لامل دی. د نوموړي په وینا، همدا لاملونه دي، چې یو ګونګ حالت یې رامنځته کړی و. ولسمشر د ولس استازو ته په اشارې وویل، نه یې غوښتل د هغو شرایطو په هکله چې ناڅرګند وو یا امنیتي ځواکونه به د طرحو د پلي کېدا توان لري یا نه، داسې څه ووایي، چې عملي نه شي. نوموړي زیاته کړه: «نه مې غوښتل خیالي حالت ترسیم او پر بنسټ یې د دورغو وعدې ورکړم. نن دغه شک تر ډېره له منځه تللی. د قوتونو نسبي پابښت رامنځته شوی او نن ستاسو په خدمت کې یم، چې د راتلونکي په هکله خبرې وکړو.»

ښاغلي غني له ملي شورا وغوښتل، اوړه راکړئ، چې د افغانستان روښانه راتلونکې جوړه کړو. نوموړي زیاته کړه، هر استازی له زرګونو کسانو سره اړیکې لري او کولای شي، د خپلو اړیکو له لارې، ملي نظم رامنځته کړي، چې دښمنانو ته کلک ځواب ورکړو.

## د امنیتي ځواکونو د دندو وېش

ولسمشر غني د خپلو خبرو په دوام زیاته کړه، د راتلونکي



«پاینښت» لپاره یې روښانه شپږ میاشتنی پلان جوړ او د دغه پلان پلي کول شروع کړي. نوموړي زیاته کړه، راتلونکي خطرونه او فرصتونه یې سنجولي او دمګړۍ په امنیتي ځواکونو کې پاینښت رامنځته شوی او ورځ پر ورځ غښتلي کېږي. د ښاغلي غني په خبره، راتلونکو شپږو میاشتو کې به پاینښت او له هغه وروسته به مطلوبو پایلو ته ورسېږو. ولسمشر وویل، د خلکو او ولس د استازو په مټ په ټول قوت پر پښو دربدای شو.

ولسمشر د ملت استازو ته وویل، دولت د ترهګرۍ له بې ساري تېري سره مخ دی او طالبان هم ۲۴ کاله مخکې طالبان نه دي. د ښاغلي غني په خبره، طالبان تر پخوا ډېر ظالم شوي دي. د غني په خبره، طالبانو د خپلو ژمنو پر خلاف له نړیوالو ترهګرو سره اړیکې نه دي پرې کړې. نوموړي وویل، د طالبانو له لوري تاوتریخوالی له بل هر وخته زیات شوی دی. هغه وایي، طالبان دیني ارزښتونو ته بې پامي کوي او پر ښځو، خبریالانو او د مدني ټولنو پر غړو یې بریدونه زیات کړي دي. ولسمشر زیاته کړه، اوسمهال دولت له یوه ناکوټلي او بې تجربې حالت سره مخ نه دی، بلکې منظمه سوق و اداره لري. ولسمشر غني څرګنده کړه، د حکومت امنیتي پلان روښانه دی او په راتلونکو شپږو میاشتو کې د «فتنې» د له منځه وړلو تیاری شته. همدارنګه ولسمشر د قواوو ترمنځ د دندو پر وېش هم خبرې وکړې. د نوموړي د خبرو له مخې، اردو دې پر ستراتیژیکي دفاع متمرکزه وي، پولیس دې د ښارونو او ستراتیژیکو ولسوالیو امنیت ونیسي او د ملي امنیت ریاست او امنیت شورا دې د امنیتي ځواکونو تر څنګ ولسي پاڅونوال همغږي کړي. هغه ټینګار وکړ، نړیواله ټولنه د دولت له ټولو پلانونو سیاسي او مالي ملاتړ کوي. ولسمشر په دې ځانګړې ناسته کې د ملي شورا له غړو وغوښتل، له امنیتي ځواکونو او نظام څخه دې کلک ملاتړ وکړي.

### طالبان دې پرېکړه وکړي؛ سوله غواړي که جګړه؟

ولسمشر غني د خپلو خبرو په یوه برخه کې وویل، ۷۲ کلن دی او له سولې پرته ورته هېڅ شی ارزښت نه لري. د هغه په خبره، دی خلکو ته د سولې، پرمختګ او آرامتیا هر اقدام چې کوي، د طالبانو له خوا له وژنې او تاوتریخوالي پرته بل څه نه ویني. د هغه په خبره، خلک تري تمه کوي، چې هېواد له دې آزموینې بریالی وباسي. هغه طالبانو ته په اشارې سره وویل، جګړه غواړي که سوله؟ نوموړي ټینګار وکړ، هېڅ ورانوونکي قدرت ته به په ګونډو نه شي؛ یا به له طالبانو سره د سولې مذاکراتو کې زنګون په زنګون کېني یا به د طالبانو زنګنونه د جګړې په ډګر کې ماتوي. ولسمشر وایي، موږ خپله ټاکنه کړې، اوس د طالبانو او د هغوی د ملاتړو وار دی، چې انتخاب وکړي.

### غبرګونونه

د ولسمشر وینا ته بېلابېل غبرګونونه ښوول شوي دي. ملي شورا او ځینو خلکو د ولسمشر د دغه اقدام، د امنیتي ځواکونو او نظام څخه ملاتړ کړی دی. د ملي شورا غړو د دغې ځانګړې ناستې پای کې ګډه اعلامیه تصویب کړه. په دې ګډه اعلامیه کې له جمهوریته، د سولې پروسې او له امنیتي ځواکونو ملاتړ شوی دی.

د ولسمشر دویم مرستیال، د ولسمشر وینا له هرې خوا روښانه او مهمه وینا بللې ده. نوموړي پر خپله فیسبوکپاڼه لیکلي، پوښتنو ته روښانه ځواب ورکړل شوی او ټولو ابهامونو ته یې د پای ټکی ایښی. د هغه په خبره، د دولت دریځ، د سولې، جګړې، د مذاکراتو د پرمختګ د څرنګوالي، د سولې مانالرونکي خبرې اترې، د دښمن ماهیت او د افغانانو ملي مسوولیتونه په روښانه توګه بیان شوي دي. دانش ویلي، د ولسمشر له دې دریځه کلک ملاتړ کوي. نوموړي له خلکو وغوښتل، یو موټی شي او له جمهوریت او امنیتي ځواکونو ملاتړ وکړي.

شاعر او لیکوال کاوه جبران ویلي، که څه هم د ولسمشر د دریځ نیول ناوخته دي، خو ټینګار کوي، هغه وخت دا دریځ ښه دی، چې عملي شي او تر شا یې صداقت وي. نوموړي له ولسمشره وغوښتل، په حکومت کې د هغو کړیو مخه ونیسي، چې په امنیتي ادارو کې لاسوهنه کوي او د جګړې پرېکړې دې د جګړې عالي شورا مدیرانو ته وسپاري. نوموړي حکومت ته سپارښتنه کړې، هغه وګړي چې عمرونه یې تر څلوېښتو کالو کم وي، د عسکرۍ خدمت دې پر جبري کړي.

له بلې خوا طالبانو د ولسمشر دا خبرې «پوچې سپورې» یادې کړې دي. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد په یوه ټویټ کې ویلي، ولسمشر غني هڅه کوله خپل بد وضیعت او وارخطایي کنټرول کړي. نوموړي ویلي، د جګړې اعلان، د تورونو لګول او «دروغجن» معلومات د غني د حکومت عُمر نه شي اوږدولی.

ولسمشر غني د ملي شورا دا غونډه داسې مهال راوغوښته، چې په دوحه کې د سولې خبرو روښانه پایله نه ده ورکړې. که څه هم سرچینې په دوحه کې وایي، د مرکچي پلاویو ترمنځ د سولې خبرې روانې دي، خو تراوسه د اجنډا پر اصلي موضوعاتو، چې منځګړي، اوربند او سیاسي هوکړه ده، بحث نه دی پیل شوی.

# د ملي شورا اعلاميه:

## طالبان بايد تاوتريخوالی ودروي



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

د ملي شورا دواړو جرګو د چنګاښ په يوولسمه نېټه د ولسمشر په ګډون د يوې فوق العاده ناستې له ترسره کولو وروسته ګډه اعلاميه تصويب کړه. په دغه اعلاميه کې له جمهوري نظام، د سولې له بهير او د هېواد له امنيتي ځواکونو ملاتړ شوی دی.

ملي شورا له طالبانو غوښتي چې د ماشومانو د يتمولو او د هېواد د اقتصادي ورانکارۍ بهير ودروي.

د ولسي جرګې او مشرانو جرګې په ګډه اعلاميه کې د هېواد له ملي امنيتي ځواکونو ملاتړ څرګند شوی دی.

ملي شورا له طالبانو او د دولت له نورو وسله والو مخالفينو غوښتي چې تاوتريخوالی پای ته ورسوي او د افغان ماشومانو د يتيم کولو او د هېواد د اقتصادي ورانکارۍ له دوامه لاس واخلي.

ملي شورا وايي چې په هېواد کې د تاوتريخوالي اصلي قربانيان عادي وګړي او بې وزله خلک دي، له دې امله دا ډله بايد له دې زيات د سيمې تاريخ او تمدن وران نه کړي. ملي شورا له طالبانو غوښتي چې د سولې له بهير سره چې يو اسلامي حکم دی يو ځای شي.

ملي شورا له هېواده دفاع سپېڅلې چاره بولي او له جمهوري نظام، اساسي قانون او د بيان له آزادۍ يې پر ملاتړ، په بېلابېلو بنسټونو کې د ښځو پر ونډې او وګړنيزو حقونو پر خونديتوب ټينګار کړی دی.

له بلې خوا، دغې شورا جوته کړې چې نه پرېږدي د تېرو دوو لسيزو لاس ته راوړنې چې د افغانانو د هڅو او قربانيو پايله ده له منځه ولاړې شي.

د ملي شورا په ګډه اعلاميه کې ټينګار شوی، هر ډول هڅې چې په هېواد کې د سولې او ټيکاو لامل شي بايد ترې ملاتړ وشي او دا شورا به په دې برخه کې په رغنده توګه خپل رول ولوبوي.

د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د اعلاميې په يوه برخه کې د ملګروملتونو له سازمان، امريکا، د افغانستان په مسايلو کې له ښکيلو هېوادونو، نړيوالو او سيمه ييزو سازمانونو او همداراز د اسلامي همکاريو له سازمانه غوښتل شوي چې د تېرو دوو لسيزو په شان له افغانانو مادي او سياسي ملاتړ او دايمي او تلپاتې سولې ته د رسېدو په لار کې هراړخيزه همکاري وکړي.

د ولسي جرګې رييس ميررحمان رحماني د ملي شورا د فوق العاده ناستې په پيل کې ټينګار وکړ چې په هېواد کې د جګړې دوام د هېڅا په ګټه نه دی.

د هېواد ولسمشر محمدمحمد اشرف غني هم په دغه ناسته کې طالبان تورن کړل چې سوله نه غواړي او له دغې ډلې سره مبارزه د هر وګړي مسووليت دی.

# د جګړې کوم اړخ له بشري حقونو د سرغړونې لامل شوی؟

◆ لیکنه: حبیب حمید زاده
◆ ژباړه: وحیدالله هوتک

په ورستیو میاشتو کې د طالبانو او امنیتي ځواکونو ترمنځ جګړه د جنګي جنایت، نسل وژنې او له بشري حقونو د سرغړونې لامل شوې ده. طالبانو په اوړایمه لسیزه کې په بامیان، شمالي ولایتونو او د افغانستان په نورو سیمو کې بشري ضد او جنګي جنایت کړی؛ خو نړۍ تراوسه نه دي غوښتي یا نه ده توانېدلې، چې د بشریت ضد جنایتکار، د بشري حقونو سرغړونکي یا هغوی چې پر جنګي جنایت تورن او اوسمهال ژوندي دي او د طالبانو په لیکو کې جګړه کوي، محاکمه کړي. په وروستیو ورځو کې طالبانو د افغانستان ډېرې ولسوالۍ تر خپلې ولکې لاندې راوستې او یو ځل بیا یې په پخوانیو کړنو لاس پورې کړی دي.

**د روم د اساسنامې پر بنسټ، که کومه ډله د یوه ځانګړي قوم، مذهب او نژاد د وژلو اقدام وکړي، نسل وژنه بلل کېږي. همدارنګه «د نړیوالو حقوقو پرخلاف په کومو سیمو کې چې قانون واکمن وي، د جبري اخراج یا جبري کړنو له لارې د ځانګړو وګړو جبري ځای پر ځای کول»، بشرضد جنایت دی.**
اوسمهال طالبانو ځانګړي قومونه له دلیل پرته د افغانستان له ځینو ولایتونو جبري تګ ته اړ کړي دي. دغې ډلې، په ځینو سیمو کې کورونه وران او شتمنیو ته یې زیان رسولی دی. یوه بېلګه یې له کندوز څخه بدخشان ته د ۴۰۰ بدخشاني کورنیو شړل دي.
د روم د اسناسامې پر بنسټ، د جګړې پر مهال ربړونه یا غیر انساني کړنې جنګي جنایت بلل کېږي. همدارنګه د بدن عمدي دردمنول هم د جنګي جنایت له ډلې شمېرل کېږي. **په مغرضانه توګه له ناقانونه لارې په لوړه کچه د عامه شتمنیو ویجاړول جنګي جنایت دی.** طالبانو نیول شوي کوماندویان په مرمیو وویشتل، خپل ځینې مخالفین یې د شپې مهال له کورونو وایستل او ویې ویشتل. بېلګه یې په کندهار کې د کومیډین خاشه وژنه ده.

د روم د اساسنامې له مخې، جنګي اسیرانو یا هر هغه چا ته چې شکمن وي، حق لري عادلانه محکمه جوړه شي. «په عمدي توګه له یوې عادلانه او قانوني محاکمې د یوه بندي محرومیت جنګي جنایت دی.» خو طالبان خپلو مخالفینو ته محکمه نه جوړوي او له نیولو وروسته یې وژني.
اوسمهال د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د بشري حقونو د څار سازمان د کندهار پر سپین بولدک ولسوالۍ د طالبانو له برید وروسته او په دې ورستیو کې د دغې ډلې کړنې د ټولو انساني او جنګي قوانینو خلاف بولي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په اعلامیه کې راغلي، چې په دغه ولسوالۍ کې د دغې ډلې کړنې جنګي جنایت دی او اړینه ده، چې نړیواله محکمه ورته رسېدنه وکړي. په اعلامیه کې راغلي: «**طالبان نړیوالو بشرپالو قوانینو ته د نه پام له کبله، په غچ اخیستلو ملکي وګړي وژلي او همدارنګه یې د ځایي خلکو د اوسنیو او پخوانیو چارواکو او دولتي ادارو مالونه تالان کړي دي.**»
وروسته له دې چې طالبانو پر سپین بولدک برید وکړ، امنیتي ځواکونو هغوی له ښار او بازاره په شا وتمبول، چې د سیمې خلکو یې هرکلی وکړ. طالبان د شاتګ پر مهال د سپین بولدک په شاوخوا کې ځای پر ځای شول او یو ځل بیا یې پر ښار برید وکړ. تر برید وروسته د دغې ډلې جنګیالیو دولتي کارکوونکي او د دولت ملاتړي په نښه او ووژل. همدارنګه هغوی د دولت ملاتړو دولتي ادارو مالونه لوټ کړل. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په اعلامیه کې راغلي: «**د نړیوالو بشردوستانه حقونو پر بنسټ، هغه څوک چې مخامخ په جګړه کې ښکېل نه وي، له جسمي او اخلاقي حقونو برخمن وي.**»
د بشري حقونو د څار سازمان هم وېلي، چې طالبانو د خپلو ویناوو خلاف، په وروستیو اوونیو کې له خپلو پخوانیو مخالفینو غچ اخیستی او پېژندل شوي منتقدین یې وژلي دي. په اوړایمه لسیزه کې د طالبانو کړنو ته په پام او همدارنګه د امریکایي ځواکونو له وتلو سره هممهاله دغې ډلې هره ورځ بشري حقونه تر پښو لاندې کړې دي. همدا اوس دغې ډلې چې په وروستیو کې یې ځینې ولسوالۍ لاندې کړې، د سیمې له اوسېدونکو په زور خواړه ترلاسه کوي. د دغې ډلې جنګیالي خلک وهي ټکوي او مالونه یې مصادره کوي.



# امریکا غواړي د افغانستان صادرات دېرش سلنه زیات شي

◆ راپور: حسین حیدري
◆ ژباړه: وحیدالله هوتک

د امریکا متحدو ایالتونو د ځار ځانګړي اداري (سیګار) په وروستي راپور کې راغلي، چې امریکا د افغانستان د هوایي صادراتو په موخه د یوه نوي پروګرام د جوړېدو په لټه کې ده. د دغه پروګرام پر بنسټ به د افغانستان هوایي صادرات ۳۰ سلنه لوړ شي. دا پروګرام له ۲۰۲۱ تر ۲۰۲۵ کال پورې جوړ شوی دی. په دغه راپور کې چې د زمري په اتمه خپور شوی راغلي، امریکا به د افغانستان د پینځو هوایي ډګرونو؛ کابل، کندهار، مزارشریف، جلال آباد او هرات له مدرن کولو ملاتړ کوي.
د سیګار د راپور له مخې به دغه پروګرام دوه زره دندې رامنځته کړي او پر حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر به زیاته پانګونه وشي، چې له دې سره به سیمې ته د افغانستان هوایي صادرات زیات شي.
افغانستان په لومړي ځل پینځه کاله مخکې شپېته ټنه کرنیز توکي د هوایي دهلیز له لارې هند ته ولېږل. اوسمهال دا ډول ۴۰ هوایي دهلیزونه جوړ شوي او تر ۳۰۰ سوداګرو د دغو دهلیزونو له لارې هند، متحده عربي اماراتو، چین، روسیې، انګلستان، فرانسې او ځینو نورو هېوادونو ته توکي صادروي.
د هوایي صادراتو الوتکې د کابل، کندهار، هرات او مزارشریف له هوایي ډګرونو الوزي. دغه صادرات تر ډېره وچه او تازه مېوه، ترکاري، طبي بوټي، ګرانبیه ډبرې، غالۍ او قره قل دي. د یو کیلو صادراتي توکو د لېږد لګښت له پینځو سنتو تر دوه نیم ډالرو رسېږي. د لېږد له ټول لګښته یوازې شل سلنه یې سوداګر او پاتې دولت پرې کوي.
د هوایي دهلیزونو له لارې د صادراتو له پیل راهیسې افغان دولت، یو میلیارد او ۳۵ میلیونه افغانۍ چې معادل یې نږدې دیارلس نیم میلیونه ډالر کېږي، لګښت کړی دی. که څه هم ویل شوي چې دغه لګښت نړیوالو سازمانونو پرې کړی، خو د مالیې وزارت وایي چې له ملي بودیجې شوی دی. د سرچینو په خبره تراوسه د هوایي دهلیزونو له لارې د څه باندې ۱۷۰ میلیونو ډالرو په ارزښت توکي صادر شوي دي.
ترهګرو ته به غاښ ماتوونکی ځواب ورکړل شي
د سیګار په راپور کې راغلي، افغان دولت د خپلې بقا لپاره هڅه کوي او په اګسټ میاشت کې د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به ښایي دغه دولت د طالبانو په لاس ویرځېږي.
د سیګار نوی راپور کاږي، دا اندېښنه شته، چې افغان امنیتي ځواکونه به اړین مقاومت ته چمتو نه وي.
د امریکا مرکزي قوماندانۍ (سنتکام) ځلور ورځې مخکې ویلي، چې تر ۹۵ سلنه امریکایي ځواکونه له افغانستانه وتلي دي. سنتکام ویلي، د امریکایي ځواکونو د وتلو بهیر له پیلېدو راهیسې د دغه هېواد د دفاع وزارت ۹۸۴، C-17 له بار ډکې الوتکې له افغانستانه ایستلې او همدارنګه له ۱۷ زره او ۷۴ قطعو زیات پوځي وسایل یې د تخریب په موخه د لوجیستیکي دفاعي آژانس ته سپارلي دي.
امریکا د خپلو ځواکونو د وتلو لړۍ د مې په لومړۍ پیل کړه. د سپېنې ماڼۍ په خبره تمه ده دا لړۍ د اګسټ تر پایه بشپړه شي.
د امریکا ځانګړي مفتش جان ساپکو ویلي: «دا لړۍ افغان دولت ته په ښکاره نامساعده ده او که دغه وضعیت ته پاملرنه ونه شي او خپل حالت ته ونه ګرځي، وېره ده چې دولت د موجودیت له بحران سره مخ شي.» هغه ګوتڅنډنه وکړه، طالبانو د دوحې د هوکړې پر بنسټ چې په تاوتریخوالي کې به کمی راولي، کوم دلیل نه دی وړاندې کړی، چې وښیي خپلو بریدونو کې یې کمښت راوستی وي. په دغه راپور کې راغلي: «امریکایي چارواکو بیا بیا له طالبانو غوښتي، چې د تاوتریخوالي کچه ټیټه کړي، خو طالبانو دا کار نه دی کړی.»
ورته مهال د ولسمشر مرستیال ویاند لطیف محمود دغه راپور ته په غبرګون کې ویلي: «موږ په زرهاوو کاله شته یوو او په زرهاوو کاله نور به اوسو. اتل افغان ملت او دولت سختې آزموینې تېرې کړې دي.» ښاغلي محمود ویلي، چې دوی به ترهګرو ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي.
په بېلابېلو ولایتونو کې د طالبانو او امنیتي ځواکونو ترمنځ د جګړې له پراختیا سره سم په زرګونه کورنۍ بې کوره او همدارنګه په زرګونه ملکیان ټپیان او وژل شوي دي. د یوناما د راپور پر بنسټ، په کندهار کې د تېرو دوو اوونیو په لړ کې د ښځو او ماشومانو په ګډون تر ۷۰۰ ملکي وګړي ټپیان او وژل شوي دي. له دې مخکې د سولې په چارو کې د دولت وزارت هم ویلي و، په تېرو څلورو میاشتو کې د طالبانو په بریدونو کې دوه زره او ۵۶۶ ملکیان وژل شوي او درې زره او ۲۹ نور ټپیان شوي دي. همداراز د یوناما په راپور کې راغلي، چې د ۲۰۲۱ کال له پیله ۳۲۹ زره او ۵۴۶ تنو په هېواد کې دننه خپلې مېنې پرېښې دي. وبه لیدل شي، چې د افغانانو وژل او بې کوره کېدل کله پای ته رسېږي.



# سوله د افغان اولس یوازینۍ هیله



◆ لیکنه: عبدالوحید وحید

**یادونه: «په لیکنه کې راغلي نظرونه په لیکوال پورې اړه لري او مجله یې رد یا پخلی نه کوي!»**

بدبختانه، سیاست مو د ولس د هیلو او د هېواد د ګټو په محور نه، بلکې له ملي ګټو سره په بشپړ تقابل کې په تشو ژمنو، شعارونو او پیغامونو را څرخېږي. حکومت له نظام او امنیتي ځواکونو د ملاتړ په نوم غونډې جوړوي او لاریونونه کوي. ولس پوهېږي چې که د غونډو دغه نوښتګر کله هم له واکه لېرې شي، نو نه یوازې بل هېواد ته به ځي، بلکې د نظام د خرابولو هڅه به هم وکړي، خو ملت به دلته پاتې وي او د ناورین د مخنیوي په موخه به د نظام او امنیتي ځواکونو ملاتړ کوي. زه نظام ته په نظام کې د ننه ګواښونه له بهرنیو ګواښونو څخه جدي او خطرناک ګڼم.

ولس مو د جګړو په لمبو کې سوځي، کورونه ترې پاتې کېږي او ډېری ترشنه آسما لاندې شپې ورځې تېروي هېواد مو کنډواله کېږي او موږ ورته د بیوسۍ په سترګو ګورو. طالبان ولس ته اعلامیې خپروي چې د هغوی تر مدیریت لاندې سیمو کې میشت خلک به نه ځوریږول کېږي ، خو په ډېرو مواردو کې واقعیتونه بل شان دي. په ځینو سیمو کې د عمل په ډګر کې د خبرو او کړنو ترمنځ ټکر لیدل کېږي .

ولسمشر غني په بهرنۍ‌نړۍ کې د افغانستان د ګټو ښه استازیتوب، له نړیوالو سره مفاهمه، په انګلیسي ژبه ښې خبرې، ښه استدلال، د اقتصادي بنسټونو د پرمختګ لپاره پلان او د نړیوالې ټولنې باور ترلاسه کولای شي، خو کورنۍ تګلاره یې ناکامه ده. هر وخت د تزلزل او تذبذب ښکار وي. کار اهل ته نشي سپارلی . په لوړو ملي پوستونو باندې داسې اشخاص ګمارل شوي چې د ملت په لومړیتوبونو نه پوهېږي. د فساد په وړاندې مبارزه یې د سلیقو پربنسټ ده.

د جامع او هراړخیز پلان په تیارولو کې پاتې راتلل او له نظام سره د واک ترل یې ستره نیمګړتیا ده. د سولې په تړاو په هر بنسټ د طالبانو او سولې د سرسختو مخالفینو په ګمارلو باندې تمرکز کول سولې ته په رسېدو کې ستونزې جوړوي.

د نظر له خاوندانو سره د سلا او مشورو پر ځای پخواني جنګسالاران نامسئولو توپکوال د جګړو ډګر ته را ایستل د ولسمشر هغه غلطي ده چې بوږنوونکې پایله به ولري. حکومت په ټولیزه توګه د عیني واقعیتونو د درک او اړینو پرېکړو پرځای د غوړه مالانو د لاسونو په پړکا د ملي ملاتړ حساب کوي.

طالبان د ولسوالیو نیولو او د هغوی په اصطلاح فتوحاتو او لاس ته ورغلیو امکاناتو هک پک کړي دي. نه پوهیږي چې اوس څه پرې وکړي. شاته نه ګوري چې وژل شوي خلک څوک وو؟ څوک یې تسلیم کړل؟ او کوم هېواد یې فتحه کړ؟ په ځینو سیمو کې د هغوی د افرادو لخوا د ناوړه کړنو ترسره کول د تأسف وړ خبره ده. هغوی د ستونزو عمق ته د تللو پرځای په خپلو افرادو باندې د لګول شویو تورونو په ردولو بسنه کوي. جګړه کولای شي خو د سیاست په ډګر کې پاتې راغلل. د اوسنیو شرایطو په حساسیت نه پوهېږي.

قطر میشتي طالبان اوس د نړۍ او نړیوالو په خبرو پوهېدلي دي چې د زور له لارې د واک ترلاسه کول به ورته خورا زړهبوږنونکې پایلې ولري. په نړیواله کچه د طالبانو د انزوا د کورنیو جګړو د پیل او د افغانستان د تباهي لامل ګرزیدای شي. . ستونزه دلته ده چې د قطر د سیاسي دفتر مشرانو او د جګړو په ډګر کې د جنګیدونکو طالبانو ترمنځ فکري توپیرونه د سولې پروسه پیچلتیا ته بیایي.

که مونږ غواړو چې افغانستان د تل لپاره یو متمدن هېواد و، نو د توپک د شپیلۍ په زور به د واک ترلاسه کولو خونړۍ لاره بندوو. واک ترلاسه کول به د داسې قانون له مخې وي چې د اسلامي اساسي ارزښتونو ترڅنګ د بیان آزادي د ټول ټاکنو له

لارې د ولسي ارادو تمثيل، مشارکت او بشري حقونو ته درناوی پکې شتون ولري. د توپک په ماشه واک ته رسېدلي خلک يوازې دومره کار کولای شي چې دغه هېواد له يوه ناورين څخه بل ته وليږدوي

د تېرو څلورو لسيزو له تجربو مې دومره زده کړې چې کلي په زور نه کېږي، ياري په جواري نه کېږي، سوله د توپک له شپيلۍ نه راوزي کورنې بغاوتونه په وژلو نه حل کېږي. ورور د ورور په مقابل کې جنګېدلاو جنګول که مجبوريت هم وي، خو په هېڅ ډول د وياړ وړتيا نلري.

د جګړو په دوام کې بيګناه انسانان سرونه خوري خو ګټې يې د هغو خلکو په برخه وی چې د انسان له غوښو څخه ګټل شوېډوډۍ يې خوراک، د معصومو ماشومانو وينه يې عائداتي سرچينه او د انبار شويو انساني جسدونو له ننداري خوند اخلي. جګړه له نفرتونو، کرکو، ويرونو، ساندو، ماتمونو او دردونو پرته بل څه نه زيږوي. د حيرانتيا خ د بدو خلکو بد ژوند او بد مرګ د تاريخ په سينه کې ثبت دی، خو بد خلک بيا هم ورباندې سترګې پټوي. د لسګونو ميليونونه انسانانو له قاتلينو لکه نيپولين، هټلر، چنګيز او هلاکو د هغوی خپل خلک هم نفرت کوي. ښه نوم نلري او مرګونه يې په بد حالت کې وو.

سوله د افغان ولس يوازينۍ هيله ده. سوله همت، حکمت او پياوړي اراده غواړي. خورا اړينه ده چې حکومت وسلوالو مخالفينو ته د ګواښونو او جګړو ته د زور ورکولو له لارې نه بلکې د راکړې ورکړې په فرمول د سولې پروسه پرمخ بوزي. نظام بايد په هر حال خوندي او سوله بايد تضمين شي. که طالبان د خپل راتلونکي رول په اړه فکر کوي، نو جګړه د ولسواليو او ولايتونو سقوط يې قطعاً حل لاره نه ده، بلکې فاجعه زيږوونکې ده.

که د سولې لپاره د پلان په جوړولو د ځنګل قانون پلئ کېږي او يا هم په يوه او بله بانه د خپلې ډلې لپاره امتيازات غوښتل کېږي، نو په يقين سره وايم چې دغه وړئ نه شړئ کېږي. بيا وړانديز دادی چې دواړه لوري خپلې غوښتنې په دقيقه او مشخصه توګه د مبهمو الفاظو کارولو پرته دريمګړي منصفه هيئت ته د پريکړې له مطلق واک سره وسپاري.

تيرو څلورو لسيزو جګړو د افغان ولس د زړه زور اوبه کړې دي. هر هغه څوک چې په لوی لاس ددې جګړې اوږدول غواړي، بايد وپوهېږيچې دغه جګړې نه يوازې انساني ارزښتونه له منځه وړي، بلکې ليرې نه ده چې ددې دوزخي اور لمبې يې د کور په انګړ کې هم را تاو شي.

که د تاريخ پاڼه راواړوو او د وژونکو له بد انجام څخه زده کړه وکړو، پوهيږو چې جګړې برياوې نه راوړي، بلکې د يو بل منل، ښنل او سوله ايزه انګېزه د ژوند موخه ګرځول برياوې راوړي. د ختيځ او لوېديځ جرمنې يو کېدل، د جنوبي افريقا تور پوستو او سپين پوستو يووالي، په امريکا کې د تور او سپين يوکېدل او په روندا کې د دوو قومونو ترمنځ د قتل عام غچ اخيستنې هوډ پرېښودلو ترشا د ښښنې زغم او يو بل د منلو انګيزه پيدا او بيا دغو هېوادونو ته د پرمختګونو لاره پرانستل شوه .

د ارام اباد او ازاد افغانستان په هيله!

## ملګري ملتونه:

# ښارونو ته د جګړې پراختيا د زرګونه تنو د بې کوره کېدو او ملکي تلفاتو لامل شوي دي



◆ ۸صبح پښتو مجله

د ملګرو‌ملتونو سازمان د استازولۍ دفتر يوناما ښارونو ته د جګړې د پراختيا له امله د ملکي تلفاتو او د زرګونه وګړو په بېځايه کېدو اندېښنه ځرګنده کړې ده. د يوناما د اعلان له مخې، په تېرو څو ورځو کې د هلمند په لښکرګاه ښار کې له لسو زيات ملکي کسان وژل شوي او کابو ۸۵ نور ټپيان شوي دي.

په همدې توګه، په کندهار ولايت کې پينځه تنه وژل شوي او ۴۲ نور ټپيان دي. يوناما ويلي چې ښارونو ته د جګړې په پراختيا سره زرګونه تنه له خپلو سيمو بېځايه شوي او ملکي وګړو ته ډېر مالي زيانونه هم اوښتي دي.

په افغانستان کې د ملګروملتونو د استازولۍ دفتر يوناما وايي د دوی په اند د ښارونو اوسېدونکي په وېره او ډار کې ژوند کوي. دغه دفتر همداراز ويلي چې د طالبانو بريدونو او د افغان هوايي ځواکونو هوايي بريدونو خلکو ته ډېر زيانونه اړولي دي.

يوناما وايي چې د بې هدفه ډزو په هکله چې روغتيايي او نورو ملکي تاسيساتو او کورونو ته زيان رسوي سخته اندېښنه لري.

په کابل کې د ملګروملتونو سازمان د استازولۍ دفتر ټينګار کړی چې د جګړې ښکېل لوري بايد د ملکي وګړو د خونديتوب لپاره لازم اقدامات وکړي، پرته له هغي به غمېزې رامنځته کړي.

# ادبي ورشو

## لنډۍ

ته بې وفا شوې زه دې هېر کړم
زه بې وفا نه يم چې تا به هېرومه

ته  د ګودر غاړې ته راشه
ما په منګې کې پراټې راوړې دينه

ته چې په ما پورې خندا کړې
خدای دې مين کړه چې زما د خندا شېنه

ته چې زما د ياری نه وې
زما ويده زړګی دې ولې ويښونه

ته چې زما قبر ته راشې
زه به په قبر کې آشنا خوشاله شمه

ته د پکتيا په غابنې راشه
زه چره يې ټوپک په غاړه ګرځومه

ته بختور يې سوداګره
چې مرغلرې خرخوې شمارې خالونه

ته به د کوم مجلس ډېوه يې
زه د بېلتون په توره شپه کې ناسته يمه

تا چې پرمخ څپېره راکړه
د اوښکو ډکې سترګې چا ته واړومه

تا به په سرو وينو کې پرېږدې
ما ژړوې د معشوقو دغه ظلمونه

تا چې په مخ څپېره راکړه
د دلاسې سرې مې نشته وبه مرمه

تا ما ته څه وېل مانه هېر شول
يو وار هغه خبره بيا وکړه مينه

## غــزل

اوښکې څه داسې چل په سترګو د جانان کې کوي
لکه واړه چې پټ پټونې په باران کې کوي
ما د تېپې غوندې په غېږه د ژوندون کې واخلې
ماته زما قيصه په جار او په قربان کې کوي
د غوټې پټ تبسم هم د ګلستان برخه وي
دا خلک څنګه ژوند په ذات کې او په ځان کې کوي؟
د پښتنې مينې د زخم د ګلابه زار شم
چې تل ګلونه په فراق او په هجران کې کوي
يمه حيران دا دلته دومره خاموشي ولې ده؟
پاڼې که وچې هم شي شورخو په خزان کې کوي
چې زړه ترې غواړي، سر ترې غواړي د خيال اور ترې غواړي
سائل ژوندون د داسې مينې په درمان کې کوي

رحمت شاه سائل

## ورک جهان

ځيګر مې مات دی، خوبان مې ورک دی
ټپې، ټپې يم جانان مې ورک دی
د خزان ګوټې ښکلاوې ريبې
ځواني مې مړه ده، دوران مې ورک دی
زما ښايست يې داسې شهيد کړ
چارګل مې نشته، پېزوان مې ورک دی
تورو لمبو يم په زړه  خوړلی
بدن ايرې شو، کاروان مې ورک دی
ګوربت د ژوند مې سلګو کې وايي
د پرواز ځوکې آسمان مې ورک دی
زه يې په سوو پاڼو کې ګورم
کتاب مې سوی، قرآن مې ورک دی
جنګه پر تا دې د خدای لعنت وي
سوله مې نشته، جهان مې ورک دی

ګل اغا احمدی

# مریدنامه ۳۵

◆ **لیکوال خېړنوال عبدالغفور لیوال**

مرید، ناڅاپه د خپل ببرسري پیر لمن ټینګه کړه او د هغه حکیم په اړه یې ورځخه وپوښتل، چې ویلي وو:

((د انسان په اروا کې یوه ژوره او بېپایه توره سمڅه ده، غریزې، عقدې او شاته وهل شوې غوښتنې په دې سمڅه کې د وړو وړو چینجیو په څېر یو بل خوري، زورور او غټ چینجي واړه او کمزوري هغه تر کومې تېروي او لا پسې چاغېږي او غټېږي، ورو ورو د چینجیو شمېر کمېږي، خو ژوندي پاتې شوي چینجیان په غټو غټو مارانو بدلیږي... په پای کې یو لوی مار چې تر ټولو زورور دی وروستي ژوندي پاتې شوي ماران خوري او په خپله په یوه لوی ښامار بدلیږي، همدغه ځانځانۍ ښامار دی، چې یو وخت له توري سمڅې څخه راوځي او د وجود ښار ته مخه کوي....))

ببرسري پیر ورو ومو سل، فرزانه حکیم ورپه یاد شو او د خپل مرید ناڅاپي پوښتنې حیران کړ، یوازې یې دومره ځواب ورکړ:

موږ او تاسو د هغو خلکو ښار ته ور روان یو، چې د همدغو چینجیو په څېر یو بل سره خوري، خو د ستر حکیم له تمثیل سره د دوی توپیر دا دی، چې دوی نه خلاصیږي، ځکه د هر خوړل شوي چینجي په بدل کې درې نور زیږي او رالوېږي...

دا چینجي به تر قیامته همداسې یو بل خوري او هیڅکله به د وجود ښار ته راونه وځي. دوی د خپلو باورونو په سمڅو کې بندیان دي، دا چینجي له سمڅې بهر رڼا څخه ویرېږي، دوی له رڼا څخه کرکه لري. دا چینجي نه غواړي پوه شي، چې له سمڅې بهر بله نړۍ هم شته، یوه روښانه او ستره نړۍ، چې یو د بل له خوړلو پرته هم په کې ژوند کېدلای شي. دې خلکو ټوله هستي د خپلو باورونو تر کوشنۍ سمڅې پورې راتنګه کړې ده. د دوی سرشت او طبیعت له همدې درې حقیقتونو څخه جوړ دی :

په تیاره سمڅه کې ژوند،

یو د بل خوړل

او له رڼا څخه کرکه.

مرید ولړزیده او زړه نا زړه د نوي منزل په خوا وروخوځېد.

# د مطالعې ارزښت

◆ **لیکنه: شکیبا نادري**

هر انسان غواړي چې په ژوند کې پرمختګ وکړي؛ له نورې نړۍ خبر شي؛ له ژونده خوند واخلي؛ خلک ورته درناوی وکړي او په سلګونو داسې نور کارونه شته چې هر انسان یې د ترلاسه کولو هیلې لري. دا ټول هغه کارونه دي چې موږ یې د علم او تعلیم له لارې حاصلوی شو. علم انسان ته د خوشبختۍ لاره پرانیزي او د یوه لارښود په توګه موږ ته د روښنایۍ لارې رانښیي. که زده کړه دومره اړینه نه وای، نو خدای ﷻ به خپل ګران پیغمبر حضرت مُحَمَّد ﷺ دې اقرا (ولوله) ویلو ته نه مجبوروه. له همدې ځایه ښکاري چې علم حاصلول د الله ﷻ له لوري پر ټولو بنده لازم شوي دي.

مطالعه د انسانانو لپاره بې شمېره ګټې لري چې په ځینو سره به یې موږ په دې لیکنه کې خبرې وکړو.

**۱. ذهني پیاوړتیا:** ډېره مطالعه د دې لامل کېږي چې زموږ ذهن پیاوړی شي. د انسان د ذهن جوړښت داسې دی چې په ډېرې مطالعې سره لا پیاوړی کېږي، مغز مو د مطالعې او نورو فعالیتونه تیاروي، تازه کوي مو او د ذهني پیاوړتیا لامل مو کېږي.

**۲. شخصیت‌جوړونه:** ډېره مطالعه د دې لامل کېږي چې موږ له ځان څخه غوره شخصیت جوړ کړو. کله چې موږ د داسې کسانو کتابونه لولو چې هغوی له هره اړخه د یوه لوړ شخصیت درلودوونکي دي، نو موږ هم هڅه کوو چې داسې کارونو ته مخه کړو چې زموږ د شخصیت لوړېدا لامل شي او په ټولنه کې د ځان لپاره یو مناسب ځای جوړ کړو.

**۳. اړینه نه ده چې هر کار تجربه کړو:** ژوند ډېر لنډ دی. موږ نه شو کولای چې هر کار پخپل ژوند کې تجربه کړو او بیا یې له بدو پند واخلو او ښه یې تل تکرار کړو دا ناشونی کار دی، خو موږ کولای شو چې د نورو خلکو تجربې مطالعه کړو او په خپل ژوندکې یې پلې کړو. اوس دلته پوښتنه پیدا کېږي چې د ټولو انسانانو احساسات، تخیلات، فکر او نور خو یو ډول نه دي، نو څنګه موږ د هغوی له تجربو ګټه واخلو؟

د دې پوښتنې ځواب دا دی چې دا سمه ده چې د هر انسان فکر او احساس بېل دی، خو په ټوله کې ټول انسان میئنیږي؛ ټول احساس لري؛ ټول مري او د ټول درد کابو یو ډول وي، نو له همدې امله موږ باید دې نور له تجربو د ځان لپاره ګټه واخلو او دا کار هم د مطالعې له لارې کولای شوو.

**۴. د استرس له منځه وړل:** ډېر وخت انسان د بېلابېلو ستونزو له امله دومره تر فشار یا استرس لاندې وي چې له ژونده ستړی شي؛ کار نه شي کولای؛ هر څه ترې پاتې وي او... د دې ټولو لپاره یوازینۍ لاره مطالعه ده چې انسان پرې ارامېږي او ټول استرس یې له منځه ځي.

**۵. د لیکلو پیاوړتیا:** ډېره مطالعه موږ له دې سره اشنا کوي چې څنګه د یوې موضوع لیکل پیل کړو؛ څنګه خپله موخه تر خپلو مخاطبینو ورسوو؛ څنګه هغوی زموږ له خبرو ملاتړ وکړي. دا ټول هغه کارونه دي چې د مطالعې په مرسته یې ترسره کولای شو.

**۶. له نورو کلتورونو سره اشنایي:** مطالعه د دې لامل هم کېږي چې د نورو خلکو له فرهنګ، دودونو، جامو او داسې نورو خبر شو. له خپل فرهنګ سره د هغوی فرهنګ پرتله کړو، مثبت او منفي اړخونه یې وڅېړو. دا ټول د مطالعې له لارې شوني دي.

مطالعه د پورته ګټو ترڅنګ په سلګونو نورې ګټې هم لري، چې دلته یې د ټولو بیانول ناشونی کار دی؛ کتابونه کتابونه خبرې پرې لیکل کېدای شي، خو په دې لیکنه کې مو د مطالعې هغه اړین ارزښتونه په ګوته کړل چې هر انسان ورته اړتیا لري او کول یې ورته اړین دي.

# د هیرېدو دوزخ



◆ **لنډه کیسه: حیات ژوند**

پر دېوال ځوړندې تابلو ته گورم، درې توري، یوه هجا په لوگي کې تت راڅرگند: «هېڅ». تابلو چا راوړې وه؟ بې له ما باید بل چا نه وي راوړې، بل څوک دلته اوسي نه! خو ما کله راوړې؟ څه وخت، له کومه ځایه؟ ورو ورو مې همدا نن تر لمر ډوبېدو مخکې ومنله، چې خیالونو او یادونو راڅخه کډه کړې، هېر کړی یې یم یا مې هر څه له یاده وتلي دي.

فکر کوم، نن کله چې د نوي ښار د گلان پلورلو پر کوڅه راتېرېدم، د بایسکېل پایډلونه مې کرپېدل؛ خو دا هر څه مې اوس هېر دي. نه مې رایادېږي، چې مات کنډکپر سړک پر بایسکیل زما موازنه بې تولې کوله. د بایسکیل پر بریک مې لاس لړشانته ورتېینگ کړی و، پایډلونه مې څو لېته شا ته اړول، یوه هتیوال گلان گېډۍ کړې وو، پر خاورینې ځمکې یې پرلتې وهلې وې، دوه درې ډکې پکې نامنظم و، یو یې را وایست او د نورو شیندلو گلانو تر څنگ یې واچاوه، د گلانو گېډۍ او هتیوال زما د سترگو له دایرې شا ته پاتې شول.
د بایسکیل پایډلونه منظم، کله گړندي او کله کرار، تاوېدل. شببه وروسته د بایسکیل پر څوکۍ سترې شوی او له بایسکیل څخه ښکته شوی او په ښي لاس مې د بایسکیل هنډل نیولی و او کیڼ لاس مې له ورانه سره زنگېده.
اوس مې هېر شوي، چې د بایسکیل د مخې ټایر ډوب ځای ته وربرابر شوی و، خو د هنډل په کړولو مې کوښښ کړی و، چې د مخې د ټایر په څېر شاتنی ټایر هم ډوبې کندې ته وربرابر نه شي. د مخې ټایر د یوه خپک په اندازه چیکړ

شوی و، له وچ سړکه یې خاورې په ځان پورې نیولې او بېرته ترې تویېدلې، اوس مې دا دواړه پېښې هېرې شوې دي.
تابلو ته لا هم ځیر یم، لکه تابلو: «هېڅ»، هېڅ راسره نشته او لکه لوگی پر ځان تاو راتاو. نه ماضي نه مستقبل. هېر شوي مې دي، چې مور و پلار څه شول، له پلاره یوه خاطره نه ده راپاتې، د مور څېره هېره ده، کاش چې د مور په ها خاطرې لمبېدلی وای، چې له ناروغۍ تازه له پېښوره راغله، ما یې ښي لاس په کیڼ لاس ونیوه، پښه مې وښوییده، دا هم په لمدو خټو راسره وښوییده. مور مې په مینه غوسه وکړه. راته ویې ویل: «لکړه مې بللې، د لاس لکړه.» خو لکه یو څه چې رانه ورک وي، لکه زه چې یې امسا نه شوم او لکه ما د هغې لاسنیوی ونه کړ او لکه په دغه ارمان پسې د لوگي په شان خپور یم او د احساس توپان رااالوځي او له ستوني مې تېروي. دریغا که دا پېښه زما په یاد وای، چې بیا بیا مې له ځان سره د یاسین په شان مقدس رنگ ورکړی وای، تکرار کړې مې وای، لږ تره لږه خپل ځان ته.
اوس په خونه کې ناست، پخواني تصویرونه مې یو هم په ذهن کې نشته، لږ تر لږه د راتلونکي په سفر نه شم وتلی او ماضي هم هېره زمانه.
عجیبه ده، که وایم، د ونې وچ مات ډنډر یم او عجیبه ده، چې متې مې رابډ وهلې، قلم مې په گوتو کې اړوم رااړوم، زېړ کاغذ مې تر مخې غوړولی، څنډې یې گونجې شوې دي او کوښښ کوم، چې یو څه ولیکم. مخامخ مې د کتابونو الماری اېښوول شوې ده. دیني کتابونه پکې څنگ تر څنگ، بې له دې چې یو د بل پر مرۍ پښه کېږدي. د

ماضي په سفر نه شم وتلی، د خونې زینې مې هېرې دي، ان هېر مې دي، چې دوه پوړیزې خونې ته څنګه راختلی یم، نبغ مې د دروازې درشل ته راټوپ وهلي که په زینو راپورته شوی یم.
پانه قلم یوې څنډې ته وهل کېږي، له خپله ځایه راپورته کېږم، د کتابونو الماری ته مخامخ درېږم، د الماری په ښیښه کې د رڼایی له انعکاس سره ییکه لیدل کېږم، له ځان سره وایم: «څېره یې اشنا غوندې ده.» یو ځل بیا سترګې وراړوم او وایم، چې که زه یم، زما د سر وېښتان ببر ولې دي؟ برېتونه ولې پر خوله راغلي دي؟
د الماری یوه دړه ښرته کوم، د یادداښتونو رنګینه زرتاري کتابچه د کتابونو په منځ کې ایښوول شوې ده، تر څنګ یې پنځه سوه مخیز پنډ کتاب ته مې پام کېږي، د کتابونو له منځه یې راباسم: «سکونداری»! پر لومړي مخ یې یو یادداښت لیکل شوی: «هغه چا ته ډالۍ چې له نورو ښېل دی.» هک حیرانېږم، کتاب ما ته ډالۍ شوی. خو چا؟ تا خو به نه وي راډالۍ کړی؟ نو ته مې هېره یې؟ ته مې څنګه هېرېدې؟ ستا غټې تورې سترګې، ګارګوتي وېښتان، د ژوندانه موسکا، هېر مې دي. اوس مې هېر دي، چې دا کتاب دې راته په الفافه کې نغښتی و، په دې دلیل چې نور خلک یې ونه ویني او هر څه په ډاګه نه شي. په ښېره دې کتاب زما تر څنګ کښېودلی، په منډه تللې وې، ان له ډېر احتیاطه دې یو ځل شا ته راکتلي نه و.
د ماضي په فکرونو کې د یوې چینډخې په شان ډوب، چې نه د ژورو تل ته کوزېدای شوای او نه هم بهر ته ډېره پاتېدای. درنګه شېبه به فکرونو کې ډوب؛ خو ناڅاپه هیښ کېږم، د خونې په زینو کې مې کړپې ته پام کېږي، په «میو» غږ ډاډه کېږم، پیشو وه. پرې مې ښووله. ومې کتل، چې کتاب مې په نورو کتابونو کې ایښی او د یادداښتونو کتابچه مې په لاس کې چې یوازې یو یادداښت پکې نږدې دوه کاله مخکې لیکل شوی و، نیولې. په پوښتونکي انداز کتابچې ته سترګې اړوم: «یوازې یو یادداښت، دوه کاله مخکې؟»
د یادداښتونو محتوا ته ځیر کېږم: «که دا یادداښتونه در و هم نه رسېږي، خو په دې نیت چې یوه ورځ به یې درلېږم، لیکم یې.» هر څه مې هېر دي، ته څوک وې؟ د کتاب د راکړې او یادداښت ترمنځ دوه کاله عمر او د یادداښت او تر ننه هم دوه کاله نور. څلور کاله وشول، چې پېژنم دې؟ خو څومره موده وشوه، چې هېره شوې مې یې؟
د یادداښتونو کتابچه مې ښرته د کتابونو ترمنځ کښېووله. ذهن مې پیشو ته واوښت، باید ورپسې ورغلی وای، همدا اوس په لرې کېدو ده، میو میو یې پیکه کېږي، فکر کوي، چې څه خواړه به ورکړم، خو له ما سره یوازې دومر زهر قاتل شته، چې زما چاره پرې وشي. ګام وراخلم، د وره له درشله ورتېرېږم، وایم که د خوړو دېګۍ نسکور کړي یا خوله پکې ووهي، نو بیا په خوړو پسې هڅې ته نه شم وتلی، ان که له ډېرې لوږې بې سبکه شم او شپه راباندې له ډېرې لوږې رڼه سبا شي. له درشله وتلی یم، زینې مې تر سترګو

کېږي، ډاډه کېږم، چې خونې ته په زینو راختلی یم. له لومړۍ پوړۍ ښکته شوم، دویمې پوړۍ ته ګورم، د پښو نوکان مې پر ګوتو رااوښتي وینم، په بېړه لاسونو ته ګورم، د لاسونو نوکان مې رسېدلي دي، په چټکۍ راوګرځېدم، د الماري ښیښې ته درېدلی یم، ځان مې د خونې د روښنایي په انعکاس کې د الماری په ښیښه کې تت ګورم. تندی په زوره په څپېړه وهم. نه پوهېدم، څه راباندې شوي او څه کېږي. له ځانه مې په ملنډو وپوښتل: «زه خو به څه باندې درې سوه کاله ویده شوی نه وم؟» او بیا مې په ډکه خوله په ځان پورې وخندل او ومې ویل، «زه نو کوم داسې ګوهر یم چې نایاب یم».
تر الماری څو ګامه شا ته شوم، دېوال ته مې ډډه ووهله، سر مې پر زنګنونو کېښوود، سر ډوب شو، د دواړو زنګنو ترمنځ نبغ ووت، پام مې شو، د ماضي او مستقبل له سفره محرومیت لکه چې زما غوښې هم تورلې دي. نرۍ پوټکۍ په هډوکو پورې نښتی. حیران یم، وایم که پوټکۍ مې پرې شي، په درست بدن کې به دا څېره لاره وکړي او ټوټه ټوټه به خپور وور شم. کوښښ مې وکاوه، چې د موضوع پر دلیل ځان وپوهوم، الماری راته تشه برېښېده، باید کتابونه مې ورپسې لټولي وای، له ماضي او مستقبله د محرومیت دلایل مې لټولي وای، د خپلې ناروغۍ لاملونه مې راسپړلي وای؛ زه خو ناروغ وم؟ کومه ناروغي؟
پر بدن مې ځړیکې خپرېږي، رېږدم. په سور پشکال کې مې ولې ساړه وشي؟ له ځان سره وګوېږم: «نه، تر دې دمه نه یم ناروغ شوی.» بیا په ځان پورې خندا راشي: «له کومه راهیسې؟»
هر څه هېر و، تېر ته ورتګ ناشونی و، ماضي د سمسېرې تر غاښونو لاندې ذب ذب او د سمسېرې دوزخ ته ورټېټه شوې وه. په یوه ارمان پسې شوم، باید یو ارمان راکې ټوکېدلې وای، چې ښه مې ورپسې ژړلي وای، پر اوسني بدمرغي حالت مې اوښکې تویې کړې وای؛ خو دا ارمان هم له ماضي سره د سمسېرې د دوزخ په کندو کې ورک و.
په یوې نازغمېدونکې ځړیکې مې سر له زنګنونو را وایست، الماری ته مې وکتل، ځړیکې له سینې خپرېږي او په ټول بدن کې رېښې ځغلوي. اوس مې الماری هېره وه، د یادداښتونو کتابچه او پنځه سوه مخیز کتاب مې هېر و، ته مې هېره وې، ګُلکار، نوی ښار، لوند سړک او باسکېل مې هېر و؛ خو ولې؟ ښایي تا هم هېر کړی یم، ځکه مې هېره یې. ښایي ګُلکار هېر کړی یم، ښایي د بایسکیل له ذهنه وتلی یم، ښایي زه پخپله په یوه «شي» اوښتی یم، خو ولې اوښتی یم؟
درنګ شېبه وروسته نور هم په ځان کې ننوتلی وم او پر خپلو ټولو کفرونو مې پښېماني ځرګنده کړې وه، ځان ته مې کتلي و، پر سینه مې لاس ایښی و، ناهیلی رانغاړلی وم او له ځانه مې بیا بیا پوښتل چې ناهیلۍ خوبه د ماضي او مستقبل له سفره نه یم راګرځولی؟


پښتو مجله ◆ لومړی کال ◆ ۵۲ مه ګڼه ◆ شنبې ◆ د ۱۴۰۰ د زمري ۱۶ مه نیټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ

# د ټلیفون له کرېډیټه مالیه ګرځول او د مخابراتي خدماتو ټیټ کیفیت



◆ **لیکنه: حسین حیدري**
◆ **ژباړه: م. ظ. صمیم**

د مخابراتي خدماتو د تنظیم اداري یا اترا د شمېرو له مخې، په اوسني وخت کې کابو ۱۲،۸ میلیونه وګړي انټرنېټ او اته میلیونه هم ګرځنده ټلیفون ته لاسرسی لري. ډېری وګړي چې له انټرنېټ او ګرځنده ټلیفونونو کار اخلي د مخابراتي خدماتو له ټیټ کیفیته سرټکوي.

د کابل یو اوسېدونکی نوروز صالحي وایي چې د مخابراتي شرکتونو خدمات ډېرې ستونزې لري، په داسې حال کې چې دغه شرکتونه له خلکو لوړ لګښت هم اخلي. ښاغلی صالحي زیاتوي چې ټول کار مو په انټرنېټ پورې تړلی. د میاشتې زر تر دوه زره افغانۍ په انټرنېټ لګوم، خو لکه څنګه چې ورته اړتیا لرم له انټرنېټه کار نه شم اخیستی. نوموړی د خپلو رسمي او شخصي کارونو لپاره په څلوېشتو ساعتونو کې کابو اتلس ساعته له انټرنېټه کار اخلي. د نوموړي په خبره په هغه سیمه کې چې پکې اوسېږي، د انټرنېټ کیفیت ټیټ او سم آنتن هم نه ورکوي. نوروز صالحي وایي ځینې شپې تر یوې یا دوو بجو ویښ وي ترڅو هغه کارونه وکړي چې چټک انټرنېټ ته اړتیا لري. ښاغلي صالحي د خپلې استوګنې په سیمه کې مخابراتي شبکې آزمویلې چې لوړ کیفیت لرونکې شبکه پیدا کړي خو نه دی بریالی شوی. نوروز صالحي چې د انټرنېټ له لارې له هېواده بهر له خپلو همکارانو سره په اړیکه کې دی، وایي په ځلونو چې یې له خپلو همکارانو سره اړیکه نه ده ټینګه شوې پلمه یې کړې چې غږ یې نه اورېدل کېږي.

له بلې خوا، **د کابل یو بل اوسېدونکی مشتاق احمدي وایي چې په افغانستان کې انټرنېټي خدمات بې کیفیته او بیه یې لوړه ده. نوموړی زیاتوي: «که څه هم مخابراتو وزارت او اترا اداره په دې برخه کې مسوولیت لري، خو تراوسه دغو دوو ادارو بریالی عمل نه دی کړی.» هغه جوتوي، په داسې حال کې چې د انټرنېټ په پینځم نسل کې قرار لرو، خو په افغانستان کې د انټرنېټ اوسنی وضعیت ډېر خراب دی.**

په دې لړ کې، د هېواد د مخابراتي خدماتو د تنظیم اداري یا اترا د اطلاعاتو او عامه خدماتو مسوول سعید شینواري وایي چې د نوري فایبر شبکه له دې مخکې یوازې د افغان تیلیکام په واک کې وه، خو اوس یې د سالم رقابت د رامنځته کولو په خاطر د نوري فایبر جواز اتصالات او افغان بې سیم شرکتونو او برېښنا شرکت ته هم منظور کړی دی. ښاغلی شینواري زیاتوي چې ځینې مخابراتي شرکتونه له پاکستانه انټرنېټ واردوي او د لارې په اوږدو کې ځینې وختونه د ناامنۍ له کبله له ستونزو سره مخ کېږي. د هغه په وینا په اوسني وخت کې یوازې افغان بې سیم مخابراتي شرکت له منځنۍ آسیا څخه انټرنېټ واردوي. د اترا اداري د اطلاعاتو او ارتباطاتو مسوول جوتوي چې برېښنا شرکت هم هڅه کوي له منځنۍ آسیا د انټرنېټ د واردولو جواز ترلاسه کړي. دا شرکت په هېواد کې ۳،۵ زره کیلومتره نوري فایبر شبکه لري او له هغې د جي پي اس لپاره کار اخلي. ملي فایبر شبکه اوسمهال په هېواد کې اوه زره او ۳۰۰ کیلومتره نوري فایبر لري. اترا اداره نیت لري چې په روان هجري لمریز کال کې دا کچه لږترلږه دوولس زره کیلومترو ته ورسوي.

ددې ترڅنګ، اترا د ښاري فایبر څلور فایبرونه هم صادر کړي چې انټرنېټ کورونو او دفترونو ته رسوي. ددغې اداري مسوولین وایي چې د ښاري فایبر جواز د اخیستو لپاره هم څلور غوښتنې په نوموړې اداري کې تر کار لاندې دي.

شینواري وایي چې مونږ یوازې له پاکستانه انټرنېټ واردوو او په ځینو سیمو کې طالبان پر نوري فایبر بریدونه کوي. د نوموړي په وینا، په دې وروستیو کې په حیرتان، تورغونډۍ او بغلان کې نوري فایبر سیستم پرې شوی و. هغه زیاتوي، په ناامنو سیمو کې پر مخابراتي ستنو بریدونه کېږي، نوري فایبر هم خرابېږي. شینواري څرګنده کړه، که په بغلان کې نوري فایبر شبکه پرې شي شمالي ولایتونه له انټرنېټه بې برخې کېږي.

ددې ترڅنګ اترا اداره وایي چې له ښار جوړولو او ټولګټو وزارتونو سره کار کوي، هرځای چې سړک جوړوي، باید د مخابراتي سیستم کانال هم ولري. د ولسمشر غني د حکم له مخې، په هر ځای کې چې سړک جوړېږي، باید د مخابراتي سیستم کانال هم ورته برابر شي. د مخابراتي خدماتو د تنظیم اداري د شمېرو له مخې، په ۱۳۹۸ کال کې ۱۶۵، په ۱۳۹۹ کال کې ۱۹۵ او د ۱۴۰۰ کال په لومړیو څلورو میاشتو کې ۲۱۱ ګیګه انټرنېټ هېواد ته وارد شوی دی. سعید شینواري وایي چې یو ګیک انټرنېټ د مخابراتي شرکتونو لپاره څلوېښت ډالره تمامېږي. هغه دا ادعا رد کړه چې ګواکې مخابراتي شرکتونه یو جي بي انټرنېټ د نهو افغانیو په بدل کې ترلاسه کوي.

جګړې او ناامنۍ مخابراتي شرکتونو ته درانه مالي زیانونه اړولي دي. اترا اداره وایي چې په ټول هېواد کې په اوسني وخت کې د مخابراتي شبکو دېرش سلنه فعالیتونه د ناامنۍ له امله د شپې یا د ورځې په اوږدو کې بندېږي چې یو زر او ۳۰۰ آنتنونه پکې شامل دي. مخابراتي شرکتونه ټول اوه زره او ۳۰۰ آنتنونه لري.

**د هېواد په ځینو ناامنو سیمو کې د مخابراتي شرکتونو د فعالیتونو د درېدو ترڅنګ، تېر کال ۳۰۸ مخابراتي ستنې نیمې او یا په بشپړه توګه ویجاړې شوې او مخابراتي شرکتونه له دې امله کابو ۱۷ میلیون ډالر زیانمن شوي دي. ښاغلي**

**شینواري وايي چې د روان هجري لمريز کال په لومړیو څلورو میاشتو کې ۵۱ مخابراتي ستنې لېږ یا په بشپړه توګه زیانمنې شوې چې د هرې يوې لګښت له سل تر ۱۵۰ زره ډالره دی.**

د مخابراتي خدماتو د تنظيم اداره وايي چې د ټيلفوني اړيکو او انټرنېټ د لګښت د کنټرول لپاره يې د مخابراتي خدماتو د تنظيم قانون ځينې مادې تعديل کړې دي. د شينواري په وينا، په هغه صورت کې چې ملي شورا دا تعديل تصويب کړي، اترا اداره د ټيلفوني اړيکو او انټرنېټ د بيو په اړه پرېکړه کولای شي.

په اوسني وخت کې دا اداره د آزاد بازار له امله د مخابراتي شرکتونو د خدماتو په بيه کې مداخله نه شي کولای. د اترا ادارې د اطلاعاتو او ارتباطاتو مسوول له ملي شورا غواړي، دا تعديل چې د خلکو په ګټه دی زرترزره تصويب کړي.

**د ورځې له ټکنالوژۍ لیرې پاتې یوو**

له بلې خوا، د کابل پوهنتون استاد او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ مخکينی مرستيال هادي هدايت ۸صبح ته وايي چې ټکنالوژي په ټوله نړۍ کې د چټک پرمختګ په حال کې ده او ځينې هېوادونه په دې برخه کې ښې تجربې لري، نو ډېره پرځای او منطقي ده چې د مخ پر ودې هېوادونو له تجربو استفاده وشي. ښاغلی هدايتي زياتوي چې د مخابراتو وزارت، اترا او احصاييې ادارو په شان بېلابېلو بنسټونو ترمنځ وظيفوي تداخل ددې لامل شوی چې مخابراتي شرکتونه لازم کيفيت چې هېوادوال ورته اړتيا لري وړاندې نه شي کړای. هغه جوتوي چې اترا اداره هم د مخابراتي خدماتو جواز ورکوي او هم کيفيت او بيه کنټرولوي او دا منطقي چاره نه ده. د پوهنتون دغه استاد جوتوي: «بل دليل دا دی چې دوی تل له مډرنې ټکنالوژۍ وروسته پاتې دي، په نورو هېوادونو کې د پينځه جي بې خبره کېږي، خو په افغانستان کې څلور جي بې پرانيستل کېږي.»

د ښاغلي هدايت په خبره، اترا اداره ددې لپاره چې خپل عايدات لوړ کړي پر مخابراتي شرکتونو د مخابراتو فريکوينسۍ په لوړه بيه بولۍ ته وړاندې کوي چې د هر يوه مخابراتي شرکت د ګټلو په صورت کې يې لګښت د خلکو له خوا ورکول کېږي.

**ډاکټر هدايتي زياتوي چې فايبر شبکو ته چې ښارونه او آن سيمه سره نښلوي هم پاملرنه نه ده شوې. د هغه په باور، که نوري فايبر شبکه د هېواد په ټولو برخو کې وغځول شي، ددې ترڅنګ چې د مخابراتي سيستم کيفيت لوړېږي، د پوهنې، لوړو زده کړو او روغتيا په برخو کې هم د انټرنېټ له ګټو استفاده کېدای شي. د هغه په وينا، له دې سره سره چې نوري فايبر شبکه په څه د پاسه ۲۵ ولايتونو کې عملي شوې، خو ساتنه يې نه ده معياري شوې.** نوموړی جوتوي، کله چې په يوه برخه کې شبکه بندېږي، ملاتړې اړيکې نشته.

همداراز، له دې امله چې د ورځې له ټکنالوژۍ استفاده نه کېږي، دا ددې لامل شوې چې په افغانستان کې د انټرنېټ بيه لوړه وي.

د مخابراتو وزارت مخکينی مرستيال د يو شمېر هېوادوالو د نيوکو په اړه وايي، که د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو د انټرنېټ بيې سره پرتله کړو، د هېوادوالو شکايتونه د تاييد وړ دي. دې ته په پام سره به وليدل شي چې له مخابراتي شرکتونو به څه وخت هېوادوال راضي شي.

# د ټلیفون له لارې د معاشونو د ورکړې پروګرام پرانیستل شو



◆ **۸صبح پښتو مجله**

د تليفون له لارې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د ورکولو پروګرام د ولسمشر محمد اشرف غني له خوا پرانيستل شو. ددغه پروګرام په پيلېدو سره له دې وروسته ټول دولتي کارکوونکي د تليفون له لارې خپل معاشونه اخيستی شي.

ولسمشرۍ دفتر ددې خبر په اعلانولو سره ويلي چې د تليفون له لارې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د ورکړې پروګرام د زمري په يوولسمه نېټه د ولسمشر له خوا پرانيستل شو.

ارګ د افغانستان بانک د سرپرست اجمل احمدي له قوله ويلي چې په دغه پروګرام کې د پيسو لېږد د عادي ګرځنده تليفونونو له لارې عملي کېږي او انټرنټ ته اړتيا نه لري.

د ولسمشرۍ دفتر د مالوماتو له مخې، له دې وروسته د هېواد ټول ملکي او پوځي کارکوونکي کولای شي په عادي تليفونونو سره خپل حسابونه وګوري او معاشونه کورنيو او بل هرچا ته ولېږي. ولسمشر دا پروګرام اساسي پرمختګ او يو تاريخي ګام وباله.

ولسمشر غني زياته کړې چې دا سيستم د فساد د مخنيوي، د روڼتيا د رامنځته کولو او د امنيتي او دفاعي ځواکونو د معاشونو په وخت سره ورکولو لپاره مهم دی. د ولسمشر په وينا، دا سيستم او تجربه يې په افريقا کې بريالی ده.

# په دهراوود ولسوالۍ کې یوې سیمه ییزې راډیو ته زیان رسېدلی دی



◆ ۸صبح پښتو مجله

د ارزګان ولایت دهراوود غږ راډیو یو شمېر وسایل چور تالان شوي او ودانۍ ته یې هم زیان رسېدلی دی.

لهځه د پاسه دیارلسو کلونو راهیسې ددهراوود غږ راډیو د روزګان ولایت په دهراوود ولسوالۍ کې په خپلواک ډول فعالیت درلود. دهراوود غږ راډیو د دغې ولسوالۍ د لبلان او نوآباد کلیو ترمنځ د یوې غونډۍ پرسر د ملي اردو یوه مرکز ته نږدې موقعیت درلود.

له هغې وروسته چېڅو ورځې مخکې د ملي اردو دغه مرکز ددې ولایت مرکز ترینکوټ ته ولېږدول شو د نوموړې سیمه ییزې راډیو ټول وسایل چورتالان شول. ددغې راډیو ودانۍ زیانمنه شوې او د سیمې خلکو یې آن دروازې او کړکۍ تر وړې دي.

ددغې راډیو مسوول محمد عمر وزیري هم د خپلې رسنۍ چورتالان تاییدوي او وایي چې د راډیو ټول وسایل غلا شوي، ودانۍ او آنتن یې هم ویجاړ شوی دی.

وزیري زیاتوي ، روښانه نه ده چې دا رسنۍ د چا له خوا ویجاړه شوې خو وایي چې دا سیمه د طالبانو تر واک لاندې ده.

د هراوود غږ راډیویوه خپلواکه رسنۍ وه، چې له دولت سره یې هېڅ تړاو نه درلود او ۱۳ کاله یې په فرهنګي او ټولنیزو برخو کې د ارزګان د مظلوم او محروم ولس ته بې ساري خدمتونه وکړل چې اوس یې وسایل د سیمې د اوسیدونکو له خوا چورتالان شوي دي.

# په هلمند کې پر یوه خصوصي روغتون هوایي برید شوی

◆ ۸صبح پښتو مجله

د لښکرګاه ښار په بیټون سیمه کې د آریانا په نوم تخصصي روغتون هوایي باندې برید شوی چې له امله یې دغه روغتون ته درې سوه زره ډالر زیات رسېدلی دی.

د دغه روغتون د ودانۍ ډېره برخه ویجاړه شوې، طبي او نور وسایل یېهم ویجاړ شوي دي.

په آریانا خصوصي روغتون کې د یوه ناروغ پایواز وژل شوی دوه ډاکټران او یو نرس هم ټپیان شوي دي.

دا د هلمند په مرکز لښکرګاه کې یو سمبال روغتون و چې د زمري په نهمه نېټه پرې هوایي برید وشو. ویل کېږي چې په دغه روغتون کې طالبان راټول شوي وو.



# کندهاري ځوانانو
# د جگړې د پای ته رسېدو لپاره
# د یوناما دفتر په مخکې خیمه درولې




◆ احمد شاه شاداب

له کندهاره کابل ته راغلو ځوانانو د ملگروملتونو سازمان د استازولۍ دفتر یوناما په مخکې د جگړې د پای ته رسېدو په غوښتنې سره خېمه درولې ده.

د کندهار ځوانانو په داسې حال کې په کابل کې د حق او عدالت غوښتنې خېمه درولې چې په کندهار او هلمند ولایتونو کې سخته جگړه روانه ده او زیات شمېر ملکي وگړو ته مالي او ځاني زیانونه اوښتي دي.

هغوی وایي، نړیواله ټولنه باید د جگړې دواړه لوري دې ته اړ کړي چې په ښارونو کې جگړه ودروي او خلک له ستونزو سره مخ نه کړي.

په خیمه کې د کندهار ولایت دوه اوسېدونکې حاجي خان او محمد جامع وایي چې طالبانو په ملکي سیمو کې سنگرونه نیولي او خلک نه پرېږدي چې له خپلو کورونو بهر شي.

دوي وایي چې طالبانو په کندهار ښار او ولسوالیو کې هغه وگړي له کورونو ایستلي چې په دولتي ادارو کې یې دندې لرلې.

حاجي خان وایي چې طالبانو د خلگو په کورونو کې ځای نیولی او له بلې خوا، دولتي ځواکونه پر دغو سیمو بمباري کوي چې عامه خلکو ته پکې مالي او ځاني زیانونه رسېږي.

هغه زیاتوي: «په کابل کې مو د ملگروملتونو دفتر په مخکې خېمه درولې چې نور په هېواد په تېره بیا لوی کندهار کې د جگړې او ورور وژنې بهیر ودرول شي او نړیواله ټولنه د افغانانو د روان ناورین د پای ته رسولو لپاره جدي اقدام وکړي.»

د مدني ټولنې استازی محمد جامع هم وایي چې له یوې خوا طالبان په ملکي سیمو کې جگړه کوي او له بله پلوه امنیتي ځواکونه پر دغو سیمو بمباري کوي چې دا حالت نور د زغملو وړ نه دی، له نړیوالې ټولنې غواړو چې د افغانانو ددغه ناوړه وضعیت د پای ته رسولو لپاره چټک گامونه پورته کړي.

د کندهار ځوانانو دغې خېمې ته له لویې پکتیا څخه هم ځینې کسان راغلي او وایي چې ټول افغانستان د جگړو له امله سختې شپې ورځې تېروي او په وینا یې افغانان باید په یوه آواز د هېواد د ساتنې او جگړې د پای ته رسولو لپاره هڅې وکړي.

د پکتیا ولایت یو اوسېدونکی وایي: «موږ له تېرو څو ورځو راهیسې د کندهار له ځوانانو سره په دې خېمه کې یوو، غواړو چې په گډه د جگړې او روانو ناخوالو د پای ته رسولو لپاره هڅې وکړو.»

دغو اعتراض کوونکو ته تر دې مهاله د ملگروملتونو (یوناما) دفتر له خوا هېڅ ځواب نه دی ورکړ شوی، په داسې حال کې چې ورځ تر بلې د کندهار په گډون د هېواد په بېلابېلو سیمو کې جگړې زیاتېږي.

# د «الله اکبر» نعره که د توپ ډز؛ د افغانستان له لوېدېځه تر ختیځه یو غږ او یو پېغام



◆ زمان سهیل ـ ننګرهار

په ننګرهار کې سلګونه عام خلک، دولتي کارکوونکي، ځوانان، ښځې او آن سپین ږیري د خپلو کورونو بامونو ته پورته شول او د «الله اکبر» ناري یې وکړې.

د شننونکو په باور، که ولسونه له لویه سره، د امنیت ټینګښت او د ورانکارو ډلو په وړاندې یو موټی شي، لیرې نه ده چې افغانستان له اوسنیو ناخوالو خلاص شي.

اخوا، د کونړ سلګونو خلکو په مرکز اسداباد کې په بیرونو د «الله اکبر» په لیکلو سره د امنیتي ځواکونو ملاتړ وکړ. دوی ویلي، افغان امنیتي ځواکونه د ولسونو سرې کرښې دي او په هر ډول حالاتو کې یې ننګه کوي.

دغو اوسېدونکو د «الله اکبر» په ویلو سربېره د «ژوندي دې وي افغان امنیتي ځواکونه او جمهوریت» شعارونه هم ورکړل.

ګڼ شمېر دیني عالمانو په جوماتونو او مدرسو کې هم دا غږ د لوډسپیکرونو له لارې بدرګه کړ او په هېواد کې یې روانه جګړه ناروا وګڼله.

لسګونه ځوانانو د لاریونونو په توګه د ښار په واټونو او د کلیو په سرکونو وګرځېدل او د امنیتي ځواکونو ملاتړ یې د «الله اکبر» په نارو سره وکړ.

په ننګرهار سربېره د لغمان، کونړ او نورستان ځوانانو، قومي مشرانو او ښځو هم د «الله اکبر» ناري وکړې.

له هغې وروسته، چې په هرات کې خلکو د طالبانو په وړاندې د امنیتي ځواکونو ملاتړ د «الله اکبر» په نارو سره وکړ، د زمري د دیارلسمې په شپه په ختیځو ولایتونو کې هم دا غږ بدرګه شو.



# معنوي: له جرګو سره مخالفت له شریعت سره مخالفت دی

◆ ۸صبح پښتو مجله

◆ محمد الله وردګ

د عدلیې وزارت د دوشنبې په ورځ په جرګو کې د شخړو د حل قانون طرحې لپاره د نظر غوښتلو په موخه یوه غونډه جوړه کړه.

د عدلیې وزیر فضل احمد معنوي، په دې غونډه کې افغانستان د جرګو وطن وباله او ټینګار یې وکړ چې د بې عدالتۍ د مخنیوي لپاره د جرګو له قانوني کولو پرته بله لار نشته.

د عدلیې وزیر وویل: په ټولنه کې د بې عدالتۍ د مخنیوي په موخه باید جرګو ته اصول وضع شي. هغه ټینګار وکړ چې په اسلامي شریعت کې هم جرګې ځانګړی ځای لري.

معنوي په داګه کړه، په هغه هېواد کې چې مختلف قومونه په ګډه ژوند کوي، د جرګو مخنیوی ناشونی دی او په قرآن کریم، احادیثو او اسلامي شریعت کې هم د جرګو له لارې د شخړو پر حل او سولې ټینګار شوی دی.

د عدلیې وزیر زیاته کړه، چې له جرګو سره مخالفت له شریعت سره مخالفت دی، د شرعي له پلوه جرګه نه یوازې ګناه نه ده، بلکې یو فضیلت هم دی.

نوموړي په جرګو کې د شخړو د حل قانون بشپړول، د عدلیې وزارت مسوولیت وباله وې ویل چې د دغه قانون پلي کېدل به د ده د کاري بهیر له ویاړونو څخه وي.

# په ارزوګان کې یو تاریخ لیکوونکی او شاعر ووژل شو



◆ ۸صبح پښتو مجله

د ارزګان والـي محمدعمـر شـېرزاد، ۸صبـح تـه وویـل، د عبدالله عاطفـي پـه نـوم یو تاریخ لیکوونکی او شـاعر د زمري په څوارلسمه شـپه د وسـله والـو لـه خـوا د دغـه ولایـت پـه چـورې ولسـوالۍ کې لومـړی لـه کوره ایسـتل شـوی او وروسـته یـې وژلی دی.
دغـه لیکـوال پـه اقتصـاد او انجینـرۍ کـې دوې ماسـترۍ لرلـې.
تراوسـه د دغه لیکوال او شـاعر د وژلو مسـوولیت چا نه دی منلی.
د شـېرزاد پـه خبـره، د یـاد ولایـت د طالبانو تر ولکې لاندې سـیمو کـې لیکـوال، شـاعران او ځینـې نـور مخـور د مـرګ له ګواښ سره مخ دي. لـه بلـې خـوا طالبانـو ددغـه لیکـوال د وژنـې تـور رد کـړی دی.
دا پـه داسـې حـال کـې ده، چـې د ارزګان چـورې ولسـوالۍ لـه تېـرې یـوې میاشـتې راهیسـې د طالبانـو پـه ولکـه کـې ده.

# د ګردېز ښاریانو د الله اکبر نعرې په بدرګه، د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ وکړ

◆ محتاج اصیل

د زمـري پـه ۱۳مـه ماښـام مهـال، د پکتیـا ولایـت پـه مرکز ګردېز ښـار کـې ددغـه ولایـت ګـڼ شـمېر اوسـېدونکو چـې د افغانسـتان درې رنګـه ملـي بیرغونـه یـې لـه ځـان سـره لېـږدول، د الله اکبـر نعـرې په پورتـه کولـو، د جګـړې او جګـړه مارو پرخـلاف او د افغان ملـي امنیتي ځواکونـو پـه ملاتـړ یـې لومـړی غونـډه او بیـا یـې د ښـار پـه واټونو کې لاریـون وکـړ.
لاریونوالـو د الله اکبـر، مـوږ پـه افغانسـتان کـې د جګـړې پـای او د تلپاتې سـولې غوښـتونکي یـوو، د باطل په وړاندې د حـق پلوي کوو، ژونـدي دې وي افغـان ملـي امنیتـي ځواکونـه؛ او ګـڼ نـور شـعارونه ورکـول. لاریـون د ماښـام لـه اوو بجـو پیـل او د شـپې تـر ناوختـه یـې دوام وکـړ. لـه هـرات، ننګرهـار او کابـل وروسـته د هېـواد پـه ګڼـو ولایتونـو کـې د الله اکبـر تر شـعار لانـدې ولسـي لاریونونـه او غونډې وشـوې او پـه تـرڅ کـې یـې پـه افغانسـتان کـې روانـه جګـړه نـاروا بلل شـوې، ددې ترڅنـګ لـه افغـان ملـي امنیتـي ځواکونـو د ملاتـړ غږونه پورتـه شـوي دي.



# د ۱۹ کلنو ملي لوبغاړو روزنيز کمپ پيل شو

◆ **۸صبح پښتو مجله**

په پلازمېنه کابل کې له ۱۹ کلنو د کم عمره کرېکټ لوبغاړو دوه اوونيز تمريناتي کمپ پيل شو، په دغه تمريناتي کمپ کې ۲۶ لوبغاړي برخه لري.

د افغانستان کرېکټ بورډ ويلي، دا لوبغاړي د کورنيو روزونکو تر څارنې لاندې تمرينات کوي.

کرېکټ بورډ وايي، دغه تمرينات به د اګسټ تر نهمې دوام وکړي، چې موخه يې د بنګله ديش په وړاندې د راتلونکو لوبو ترڅنګ آسيا جام او نړيوال جام سياليو ته د افغانستان له ۱۹ کلنو کم عمره ملي لوبډلې، چمتوالی دی.

افغان کرېکټ بورډ وايي، دا روزنيز کمپ دوه پړاوه لري؛ چې له لومړي پړاو لوبغاړو څخه به د کمپ بل پړاو ته لوبغاړي غوره شي، چې په دويم پړاو کې به تري د افغانستان له ۱۹ کلنو کم عمره ملي لوبډله جوړه شي.

د کرېکټ بورډ د مالوماتو له مخې، د افغانستان له ۱۹ کلنو کم عمره ملي لوبډله به د بنګله ديش له ۱۹ کلنو څخه کم عمره ملي لوبډلې سره د پنځو يوه ورځنيو لوبو ترڅنګ يوه څلور ورځنۍ لوبه هم وکړي.

په دې سربېره تاکل شوي، غوره شوې لوبډله به د روان ميلادي کال په ډسمبر مياشت کې د نولس کلنو په آسيا جام او د ۲۰۲۲م کال په جنوری او فبروری کې په نړيوال جام کې برخه واخلي.




# افغان لوبغاړی حسين زماني د هالنډ له نايمخن لوبډلې سره يوځای شو

د افغانستان د فوټبال فډراسيون وياند فيروز مشعوف د زمري په ۱۲مه نېټه وويل چې د افغانستان د ملي لوبډلې دا پخوانی لوبغاړی د هالنډ نايمخن له ۲۱ کلونو فوټبال لوبډلې سره د يو کلن قرارداد له مخې يو ځای شوی دی.

د ښاغلي مشعوف په خبره ټاکل شوي ښاغلی زماني له دې وروسته د هالنډ له ۲۱ کلنو غوره لوبډله کې د لوبې وکړي.


د فوټبال فډراسيون وياند زياتوي، له دې وړاندې حسين زماني د هالنډ په غوره ليګ لوبډله او دغه راز، تل ستار لوبډلې کې لوبېدلی و چې تېرکال د افغانستان د فوټبال ملي لوبډلې په بلنه د نړيوال جام او آسيا د ملتونو جام په سياليو کې د لوبېدو لپاره له افغان لوبډلې سره يوځای شوی و.



# عکسونه خبرې لري



عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.













**آخر ترکله!؟ کوم باضمیره انسان به د بې وزله او بې وسه افغانانو په دغو کړاوونو سترګې پټوي.**
**ترکومه به افغانان له ډول ډول ستونزو او ناخوالو سره مخامخ وي.**

Magazine
Hasht e Subh
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope





له هغې وروسته چې په هرات کې خلکو د امنيتي ځواکونو په ملاتړ د «الله اکبر» نعرې وکړې. کابل ښاريانو هم دا غږ ورسره بدرګه شو.
همداراز، په ننګرهار، لغمان، کونړ، نورستان، پکتيا او يو شمېر نورو ولايتونو کې خلکو د خپلو کورونو له بامونو او په لاريونونو سره چې د افغانستان ملي بيرغونه ورسره وو، د جګړې پرخلاف او د افغان امنيتي ځواکونو په ملاتړ د «الله اکبر» نعرې وکړې.

